SIKARAAM

# بنګلا پیژندنه

معتصم بالله شاهد



Ketabton.com

ډیسمبر ۲۰۲۲

www.sikaraam.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښکلا پېژندنه

# ښکلا پېژندنه

ښایست او جمالیات

لیکوال:
معتصم
شاهد

د ښکلا اړوند بېلابېل نظرونه، د ښکلا ذوق، د ښکلا موجودیت او نه موجودیت، انساني ښکلا، جمالیاتي حظ، جمالیاتي تجربې، جمالیاتي حس، مافوق طبیعت ښکلا، بدرنګي یا قبحه او نارسیسزم یا نرګسیت

www.sikaraam.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

## خپل ګران پلار، مور او
## میرمنې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

د هغه خدای ج ستاینه بیانوم چي جمال او جلال يې د عدم د کندې نه د وجود صحرا ته بهر کړ او پر هغه پیغمبر دي درود، صلاة او رحمة نازل وې کوم چي د ټول جمال ښتن او سرچینه ده هغه پیغمبر چي ټول کاینات يې د جمالي او جلالي سترګو د رویه پیدا دي او دده پر آل او اصحابو دي درود او رحمت وې.

دا چي انسان د ښکلا او جمال نه پرته هیڅ پرمختګ او هیڅ لاسته راوړنه نه سي درلودلای او د جمال تنده انسان نه پرېږدي چي د جمال څه پرته دي ژوند وکي.

زما هم د ډیره وخته د جمال په اړه زیاتي خبري ذهن ته تللې او راتللې او د جمال په اړه مي په پښتو ژبه څو محدودي مقالې ویلې وې نو دا احساس مي وکړ چي د خپل تحقیق موضوع جمالیات وټاکم.

دا چې د جمالیاتو په هکله یو مکمل کتاب د خوشحال او جمالیاتو دئ او یو څو تیت پرک معلومات د مقالو په ډول شته نو ما دا ضرورت احساس کړ چې پر دې موضوع کار وشي او ما ځان دې کار ته وقف کړ.

جمال د انسان داسي ضرورت دئ لکه خوراک او د نوي علومو یوه ارزښتناکه موضوع ده نو د جمالیاتو ارزښت به څومره وې دا تاسو لوستونکي ورباندي غور وکړ.

ما د جمالیاتو په اړه د اسلامي او د نړۍ د بیلابیلو ژبو د پوهانو نظرونه د خپل تحقیق سر چینه ټاکلې او د غه تحقیق مي ورباندي روان کړی دئ.

په دې تحقیق کي به د جمالیاتو د تعریف د مافوق الطبیعت تر جماله تاسو ورسیږئ یوه خبره چي تل باید ستاسو په ذهن کي وې د جمالیاتو علم ساینس نه دئ چي پر تجربه ولاړ وې هر نظر او هر فکر پکښې صحیح او رد دئ. که کوم وخت مي د خپل فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



آس د جمالياتو پر دښته ځغلولی وې دا فکر مه کوئ چې د ښاغلي خبره سل په سلو کې صحيح ده بلکې غور او فکر وکئ او قضاوت وکئ.

ما چې څومره د جمالياتو په هکله فکر کړی دئ نو هغه فکر او د نورو پوهانو اندونه دلته ما داسې سره وډلې دي چې هم د جمالياتو موضوع دنړيوالو ښکلا پوهانو په اند تشريح سي، او هم څه نا څه د پښتنو پوهانو اندونه ورسره ګډ کم.

تاسو به هم د جمالياتو په هکله ډيري نظريې لرئ او دلته په دې تحقيق کې هم زياتې نظريې دي کومې چې خوند درکئ وايې خلئ او کومه چې مو خوښه نه سوه رد يې کئ.

دا چې زما لمړنی تحقيق دئ نيمګړی به وې او د ستونزو څخه به ډک وې نو په خپل لوی فضل او مهربانۍ مو راته بخښه وکئ.

دا هم تاسو او داېې هم جماليات.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جماليات

## جماليات

جماليات چې په نننې عصر کې علم الحسن او د ښکلا فلسفه هم ورته وايي؛ د جمال جمع ده. هغه نظريې چې حسن پيژندونکو د ښکلا په هکله کړي دي په خپل لمن کې ځايوي او د ښکلا پر بېلا بېلو اړخونو رڼا اچوي.

د انسان په راتگ سره د جمالياتي حض خبره د انسان له ترټولو مهمو مسايلو څخه ده. کله چې موږ د انسان تاريخ ته گورو نو لمړنی جنگ او بدبختي هم د جمال نه پيښه ده؛ چې هابيل د جمال او ښکلا قرباني سو ځکه هغه جينۍ چې د قابيل سره پيدا سوې وه؛ ښکلې او جذابه وه او هغه جينۍ چې له هابيل سره پيدا سوې وه بدرنگه وه نو قابيل نه غوښتل چې هغه ښکلې جينۍ چې له ده سره پيدا سوې په هيڅ قيمت له لاسه ورکړې نو ځکه يې هابيل قتل کئ.

د جمالياتو اصطلاح د يوناني ژبي ايستيټک نه اخستل سوې ده،چې د حسن فلسفه هم ورته وايي .

ايستيټک هغه اندروني حس دئ چې د يو څه ادراک په کيږي.

جماليات تر يو حده پراخه مفهوم دئ؛ په دې علم کې نه يواځې ښکلا څيړل کيږې بلکې د ښکلا مقابل چې بدرنگې ده هم تر څيړنې لاندې نيول کيږي. په دې علم کې زړه راکښون، ښايست، جمال، ناز نزاکت، جلال، کبر لويي، دبدبه، وقار، سرلوړي او ځان غوښتنه هم تر څيړنې لاندې نيول کيږې.

که د جمالياتو تاريخ ته راسو نو د پيړيو، پيړيو راهيسې د جمالياتو په هکله تيت او پرک مالومات سته او د هغه په هکله د پوهانو نظريې شتون لرې د افلاطون او ارسطو نظرونه هم د جمالياتو د علم لپاره مهم او ارزښتمن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چي ارسطو انسان حيوان ناطق تعريف کولی نو په دې مانا چي انسان هغه موجود دئ چي خبري کولای سې عقل او ادراک لري خو نن انسان په حيوان صانع سره تعريف کيږې چي صنع او ايجاد کوي همدا انسان وو چي د ښکلا علم يې د نورو علومو څه بيل کئ او ځانته فن يې وګرځوئ.

د جمالياتو تاريخچه:

نو د دغه ځايه څخه وايو چي انسان په اتلسمه پيړۍ کي د جمالياتو علم د يوه نوي علم په څېر نړۍ ته وړاندي کئ او جماليات يې د يوه بيل علم په څير څرګند کئ.

جرمنی بام ګارټن (۱۷۳۵ز)لمړنی عالم و چي جماليات يې د يوه منظم بحث په ډول تر څيړنې لاندي ونيول او پر خپل کتاب يې د استيتيکا نوم کېښود. په دې کتاب کي يې پر جمالياتو منظم او سستماتيک کار وکئ.

جماليات د فلسفې يوه برخه ده چي له فلسفې څخه يې جلا کول يوڅه ستنزمن بريښي ځکه د جمالياتو حس د انسان فکر، خيال، احساس او شعور سره مستقيمي اړيکي لري چي هريو يې د عقلي فلسفې پراخه موضوع جوړوې.

دا طبعي ده، چي انسان په طبيعت کي ډيرو شيانو ته ميل کوي او د هغوی سره دلچسپي ښيي خو دغه دلچسپي په بېلا بېلو ځايونو کي بېلي، بېلي بڼي اخلي مثلاً: هغه څه چي د افغانستان وګړي يې خوښوي د ايران خلک ورسره حساسيت لري. هغه رنګ چي ماته ښايسته ماليږي زما ورور ته خوند نه ورکوې حتی کومه موسيقي چي زما د نن ورځې د خوښې وړ وي کيدای سي، چي څه عمر وروسته هغه موسيقي زما پر غوږونو بد تاثير وکړي. نو ځکه د ښکلا تعريف کول او محدودول زما په اند مشکل کار دئ.

زموږ په شاوخوا کي خورا ډېرې ښکلاوې سته، چي موږ يې اورو،وينو يې احساسوو يې او موږ د هغې په هکله خبري کو، لکه: د بېلا بېلو هنرمندانو تابلو ګاني، مجسمې، نقاشۍ، شعرونه او ... چي د ښکلا ښکارندويي کوي. ښکلا يا هم جمال چي د نړۍ په هره برخه کي شتون لري؛ يوه مهمه او مغلقه موضوع ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جماليات چې په پښتو ژبه کې يې بديل ښکلا يا ښايست دئ؛ په عربي کې حسن او په يوناني کې ورته ايستيټک وايي. د بېلا بيلو زاويو څخه بيل ډولونه لري لکه: د اواز ښکلا، د رنگونو ښکلا، د طبيعت ښکلا، مصنوعي ښکلا او داسي نور... خو په عموم کي جماليات دوه غټې برخي لرې چې حسن او قبحه ده چې حسن هم دوې برخي چې جلال او جمال دئ چې د ښکلاپوهنې د علم اساس جوړوې.

اوس که د ښکلا پوهني دعلم تعريف کوو نو داسي کيدلای سي چي ووايو هغه علم چي د ښايست په هکله تيوري وړاندي کوي او د انساني ذوق څيړنه کوي ښکلا پوهنه ده څکه د ښکلا په هکله قاضي د انسان ذوق دئ؛ چي دا شی ښايسته او دا بيا بدرنگ دئ نو هغه علم چي د انسان د ذوق څيړنه کوي هغه به د ښکلا پوهني علم وي.

د ښکلا پوهني علم په غير علمي ډول د هر انسان د خوښي او طبعي موضوع ده که په انسانانو کي موږ د يوه مشترک صفت خبره کوو هغه همدا ښکلا ده.

د جمالياتو علم د خپل پراخ او ارت څيگر کې خورا ډير موضوعات څيړي او د انساني ژوند ډير اړخونه مطالعه کوې؛ موږ وينو که انجينر ودانۍ ډيزاين کوې نو لمړنی اړخ چي په نظر کي يې لري هغه ښکلاييز اړخ دئ که شاعر شعر ليکي که ښه موثر وې يا هم د ژوند نور اړخونه ټولو کي لمړنی ارزښت ښکلا ده.

د ښکلا پوهني د علم موضوع: جلال ، جمال او قبحه ده هغه که په انساني ژوند کي وي يا په طبيت کي يا په اخلاقو کي آن تر طبيت که لوړ هم وي.دا چي هر شی په يواځي ځان نه پيژندل کيږي بلکي هر شی په خپل ضد سره تر ټولو ښه معريفي کيږي او تر څو چي د يو شي ضد ونه پيژنو تر هغو سخته ده چي خپل مقصود دي موږ تعريف کړو نو ځکه د ښکلا په فلسفه کي د بدرنگۍ بحث يو مطرح او تر ټولو مهم بحث بولو او د يو اساسي بحث په ډول مطالعه کوو.

خو د ښکلا پوهني ارزښت دومره لوړ دی چي که هر څومره يې د ارزښته بحث کوو همدومره به نور اړخونه د ارزښت زياتيږي هغه د استاذ پسرلي خبره چي ادبيات د ميړيو

(c) ketabton.com: The Digital Library



من جوړول دي کله چي دوه تلي ته اچوې لس لويدلي يې همداسي که د ښکلا پوهني پر ارزښت يوه خبره کوو لس نوري را ولاړيږي او ذهن مو اشغالوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حسن

حسن چي د انسان لپاره اړینه موضوع ده دومره هم ساده نه ښکاري څومره چي موږ یې د نوم سره عادي یو.

په پښتو ژبه کي حسن د ښایست ښکلا مترادف بللی سو او د پښتو ژبي د ډېرو شاعرانو په شعرونو کې یې مثالونه لرو او وینو یې چي حسن او ښایست یو د بل مترادف واقع سوې دي؛ راسئ د میرزا حنان بارگزي د یو غزل څه یو څو بیتونه وگورو.

میرزا حنان بارگزی وایي:

چي د خدای ج عطا پر وشي ښایست ورکه

گڼه نه شي رانیوه په بها حسن

ستا ښایست لره حاجت د زیور نسته

نه زیاتیږي د هیچا په حنا حسن

د حسن د اصطلاحي تعریف دپاره دومره تعریفونه وړاندي سوې دي چي بیخي تر حساب تیر خو موږ به تر ټولو مخکي د قرآن کریم او د مفسرینو نظرونه را اخلو ورسته د یوناني فیلسوفانو نظر را اخلو چي دوی د حسن په هکله څه وایي او ورپسې بیا بېلا، بېلې نظریې رانقل کوو.

الله ج په سورة تین کي فرمایلي دې : (( لقد خلقنا الانسان فی احسن تقویم )).سورة تین

چي ددې ایات تفسیر محدثین داسي کوي؛ چي الله ج د انسان په حسن خلقت قسم کړی او وایي چي ما انسان په ښکلي او ښایسته صورت کي پیدا کړی دئ.

تفسیر قرطوبي ددې ایات شریف په تفسیر کي یو حکایت رانقل کوي؛ دی وایي چي یو وخت عیسی بن موسی الهاشمي چي د خپلي ښځي سره یې له حد زیاته مینه درلودله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپې په مجلس کې خپلې ښځې ته وویل که ته تر سپوږمۍ نه وې ښکلې نو پرما طلاقه یې نو سمدلاسه هغه ښځه له عیسی نه لرې سوه او ویې ویل زه پر تا طلاقه یم. سهار یې دربار ته د وخت علما راوغوښتل او دا قیصه یې ورته بیان کړه ټولو ورته وویل: ښځه دې طلاقه ده خو د امام ابو حنیفه رح یو ملګری غلی ناست وو څه یې نه ویل کله چې د خبرو نوبت ورغلئ ویې ویل: دا ښځه هیڅ کله نه ده طلاقه او دا ایات شریف یې تلاوت کئ: ((لقد خلقنا الانسان فی احسن تقویم))

صحیح بخاري د صورة حم سجدة په تفسیر کې فرمایي ژباړه : ((چې الله ج لمړی مځکه په دوو ورځوکې، ورسته یې اسمانونه په دوه ورځو کې، بیا یې غرونه، څړځایونه او ښکلا په دوه ورځو کې پیدا کړل)).

یوناني فیلسوفان وایي: ((حسن او قبحه د یوه څیز دوه نومونه دې چې حسن د روحاني اضطراب د تسکین او د ژوند دهوساینې او ارتقا لپاره ضرور څیز دئ)).

دلته دوه څیزونه یاد سوې دي: حسن او قبحه چې یو د بل مقابل واقع سوې دې او د یو شي دوه مخونه بلل سوې دي دلته د نسبیت فلسفه یاده سوې ده چې هیڅ شی مطلق نسته بلکې هر شی نسبي دئ نو حسن او قبحه هم یو نسبي شی دئ. که یوه جینۍ وګورو او ووایو چې دا مطلقې ښایسته کیدای سي دا خبره نیمګړې وې خو که د نسبیت فلسفې ته راسو نو هم دغه جینۍ نسبت یوه ډلو نوجونو ته ښکلې ده خو نسبت نورو ته بیا هم دا جینۍ بدرنګه ده.

که دغه جینۍ یو شی فرض کړو نو یو مخ ته ښکلې سوه او بل مخ ته بدرنګه سوه، یو طرف یې حسن او بل طرف یې قبحه سوه.

دا خبره ښکاره ده چې حسن روحاني اضطراب راولي خو چې ولې یې راولي؟ دې خبره کې تم کیږو دا چې انسان یو حساس موجود دئ او په انسان کې د ښکلا خوښونې ذوق تل وې؛ خدای ج انسان همداسې پیدا کړی چې د دغه حسه پرته ورته ژوند بیخي بې خونده وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ انسانان چي څرنګه خوراک ته اړتیا لرو همداسي استیتیکي یا ښکلاییز حس مو هم یو څیز غواړي چي زموږ دغه حس او دغه لوږې ارامه کړي او هغه ښکلا ده چي انساني روح اراموي.

سنتیانا د حسن تعریف موږ ته داسي پریښی دی:(( حسن په اصل کي زموږ د خوښۍ معروضي شکل دئ یعني حسن زموږ د احساساتو بڼه یا صورت دئ)).

سنتیانا حسن زموږ د خوښۍ معروضي شکل بللی دئ کله چي موږ خوښي احساسوو دغه ته دی حسن وایي خو ده دېته هیڅ فکر نه دئ کړی چي زموږ دغه خوښي د څه شي څخه په لاس راځي که موږ وګورو چي زموږ احساسات خپله د حسن یو اړخ دئ نو مجبور یو چي مقابل طرف یا زموږ احساساتو راپروونکئ اړخ د نظره ونه غورځوو،چي دا به مو د حسین شي سره یوه لویه بي انصافي کړې وې خو حسن څه شی دئ؟ ډېر جمالیاتي پوهان د حسن په پیژندنه کي ګونګ دي او د حسن جامع تعریف وړاندي کول سخت بولي.

موږ چي کله هم د جمالیاتو علم کي بحث کوو د دوو غټو نیمګړتیاوو سره مخامخ یو یوه ډله هڅه کوي چي حسن یواځي د انسان ذهن ته پیښه سوې خوښي بولي او بله ډله بیا یې یواځي په هغه مادي شي کي حسن لټوې زموږ احساسات د حسن د لیدلو څه منځ ته راغلی حالت دئ نه خپله حسن دئ او نه حسن کیدای سي. موږ تل وایو چي د حسن په لیدلو انسان تاثر اخلي همدغه احساسات زموږ د تاثر د ښکاره کولو بڼه ده چي د حسن په لیدلو یې اخلو.

برانرډ بورکیټ وایي:(( د حسن داسي تعریف نسته چي ټول یې په یوه خوله بدرګه کي)).

بورکیټ حسن یوداسي شی معریفي کوې چي منونکئ تعریف نه لرې. دغه حالت تقریبا په ادب او فلسفه کي زیات دئ چي د زیاتو شیانو حتا د ټولو شیانو دپاره نه هم په ادب او نه هم فلسفه کي ټول منلی تعریف سته بلکي هر تعریف تر یوه حده منلی وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تر يوه حده رد سوی وي خو دا په دې مانا نه ده چي حسن هيڅ تعريف کيدلای نه سي بلکي په دې مانا چې د هرچا منلی تعريف نه سو ورته وړاندي کولای.

خو کروس بيا حسن راته تعريف کوې دی حسين هغه شی بولي چي زموږ د لذت او خوند سبب سي هغه که د سترګو د لاري ورنه خوند واخلو لکه يوه ښکلي څهره کتل او که د غوږنو د لاري وي لکه د بلبل ږغ.

ګروس وايي: ((په اصطلاح کي ښکلی هغه دئ چي سم دلاسه د حسي لذت سبب سي د باصره دپاره هم د سامعه دپاره هم.) )

کروس يواځي د ښکلي ږغ او ښکلي ليدل سوې شي تعريف کړی خو موږ د ښکلا يوه برخه د پوزې په حس سره هم حس کوو او دی بيخي د هغه په هکله نه دئ ږغيدلی او د حسن له جملې يې ايستلی دئ ځکه لمړی دی وايي هر هغه شی چي موږ ته لذت بخښي خو کله چي دی د سترګو او غوږونو تخصيص کوې نو تعريف نيم ګړی کوې.

حسن لذت بخښي انسان ته ارام ورکوې او درک يې په ظاهري حواسو کيږي هر حس که وې. موږ د حسن د ادراک مرکز زړه لرو خو زړه يواځي ښکلا درک کوې خو دغه ښکلا د ظاهري حواسو د لاري ځان زړه ته رسوې او هلته ځان ته ځای ټاکي.

بيا هم د حسن نيمګړی تعريف وسو حسن يو داسي شی دئ چي کله يې په هکله فکر کوو نو زموږ ذهن ته بېلي بېلي خبرې راځي،ګڼي لانجي مو ذهن راته موشوش کوې او په يو ډول ګنګسيت کي پاتيږو حسن معروضي که موضوعي که ده دواړو ګډوله شی دئ؟ او داسي نوري پوښتنې منګر هم په دې ګنګس توب کي پاته دئ او د حسن تعريف نه کوې.

اې آر منګر وايي:(( زه د ډېري مودې نه د حسن په لټه کي يم چي حسن څه شی دئ؟ په سمندر کي ګرځم او تر اوسه د ساحله ډير لرې يم او په شک کي يم چي زه به خپلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



موخي ته کله او څنګه ورسيږم ؟اخوا دېخوا ګورم خو زما نظر د مظامينو په کثرت کي ورک سوی دئ.))

موږ مخکي هم وويل چي حسن يو ګرداب ته ورته دئ کله چي ورته ګوري نو حيرت دي لمنه نيسي چي اوس څه ووايې؟ په ذهن کي به يې په هکله ډېر څه لرې خو هيڅ به ورباندي نه سې ويلای ګويته هم حيرت اخستئ دئ.

ګويټې وايي: ((حسن د تشريح وړ څيز نه دئ دا خو د يو داسي خپريدونکې،ښوريدونکي او ځليدونکي سوري په شکل دئ چي عکس يې هم د تعريف په دام کي نه راځي. ))

ګويته حسن د لمر غوندي روښانه بولي خو د عکس اخستلو توانايي يې په ځان کي نه ويني او وايي چي دغه روښانه لمر د کيمرې لينز کي نه سي راتللای.

موږ ډېر زيات شيان لرو چي تر تعريف پرته يې ښه پيژنو زموږ محدود انسانان به په دې پوهيږي چي اوبه اکسيجن او د هايدروجن د تعامله منځ ته راغلې لمر هم نه تعريف کيږي او همداسي حسن زموږ زيات ضرورت دئ خو تعريف يې ناممکن غوندي ښکاري نو حسن موږ پيژنو خو تعريف يې نه سو کولای زموږ زيات شمير زيات معلوم شيان نه تعريف کيږي.

حسن يو ضرورت دئ د انسان دپاره خو انسان ته دا مهمه نه ده چي حسن څه خو دا حتمي ده چي هر انسان حسن خوښوي حس کوي يې او خوند ور څه اخلي حسن حسن دئ لکه: لمر روښانه او ښکاره دئ هيڅ ضرورت تعريف ته نه لري حسن که په علمي تعريف وه هم نه پيژنو خو په ليدلو يې پوهيږو چي دا حسن دئ او بس.

جونز حسن يو موضوعي څيز بولي چي کله هم زموږ د هيلو او غوښتنو مطابق شی مخي ته راسي دغه حسن دئ.

اووين جونز وايي: (( د ارزو هيلې او غوښتنې څه چي کومه ذهني ارامي لاس ته راځي حسن دئ)).

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو جونز دا خبره هيره کړې چي دلته ارزښت تطابق او خاريجي موجود دئ زموږ ذهن خو صرف د يو خيال په وجود کي د يو شي غوښتنه کړې ده او کله چي د دغه خيال تطابق په خارج کي پيدا سو نو هغه حسن دئ نه زموږ خيال.

زموږ د ارزو سره د خاريجي معروض مطابقت حسن دئ حسن ذهني ارامي او سکون راولي خواږه چي موږ خرو موږ مړوې حسن چي موږ وينو سکون او ذهني ارام راکوي اوس که موږ د خوړو ذوق ته مړتيا ووايو نو دا خو يوه نا معقوله خبره ده نو ځکه بايد داسي ووايو چي حسن هغه تنزيهي يا مجرد معروضي شی دئ چي مادي شي ته عاريضيږي او د انسان د خوښی سبب کيږي.

ميا شريف يوه ښه نظريه وړاندي کړې ده ،چي هغه تقريبا معتدله ښکاري؛ ده، د خيال او حقيقت تطابق حسن بللی کله چي زموږ د ذهني يا خيالي غوښتني سره حسن موافقت وکي دغه ګڼوله حسن دئ.

ميا شريف وايي: (( حسن د حقيقت او اظهار د امتزاج نه يو مخصوص صفت دئ.)

د حقيقت څه که دلته ريشتينولي واخلو نو بيا دلته اخلاقي حسن په حقيقت او مادي حسن په اظهار سره د حسن د تعريف لمني ته ځان اچوي خو که د حقيقت نه د انسان داخلي ايډيال واخستل سي نو خبره د امتزاجي نظريې طرف ته کشيږي چي حسن د انسان د ذهني ايډيال او د ظاهر مطابقت دئ.

حسن نه يواځي د ظاهري څېرې ښکلا ده بلکي اخلاق هم د جمالياتو د علم يوه پراخه او ارته برخه ده چي په جمالياتو کي بحث ورباندي کيږي نو ځکه ميا شريف حسن د حقيقت او اظهار امتزاج بللی دئ او تر يوه حده يې جامع تعريف وړاندي کړی دئ.

خو اقبال نسيم خټک بيا د حسن تعريف د تخيل اظهار بللی دئ؛ دی بيا هم په دې ګرداب کي ګنګس دئ او دا نه وايې چي اوس حسن د چا خاصيت سو او چيرته يې شتون پيدا کئ صرف د تخيل اظهار حسن دئ اوس د خيال اظهار د بدرنګه شي په هکله هم کيږي نو ايا هغه ته حسن ويلای سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقبال نسيم خټک : ((حسن د استحضار يا تخيل اظهار دئ)).

د ښاغلي خټک صيب تعريف تر ډيره حده حسن د انسان د داخلي حس سره اړوندوې خو تر کومه حده چي مو په حسن کي معروضي فکر نه وي ځای پر ځای کړی تعريف گونگ او نيمگړی دئ؛ حسن تر ډيره نه بلکي تل تر تله د معروض صفت گرځيدلی دئ نه د فکر؛ موږ وايو څومره ښکلې پيغله ده خو تر اوسه هيڅ کله نه وايو چي دا زموږ د فکر ښکلا وه.

ټومسيو ښکلا د جزباتو په قوت سره په يو تصور کي د زياتو حقايقو امتزاج او گډوالئ بولي. دی په ښکلا کي د جذبې د قوت خبره کوې دا چي د جذباتو قوت او د حقايقو امتراج د حسن نه پرته د قبحي يا بدرنگۍ په حالت کي هم د انسان تأثر جوړيږې نو څه رنگه د حسن داسي تعريف وکو چي د حسن مقابل يا متضاد دي د حسن په تعريف کي گډ سي.

ټوميسو ښکلا داسي راپيژنې: ((ښکلا د جذباتو د قوت په تاثير په يو تصور کښي د زياتو حقايقو امتزاج او گډوالئ دئ)).

دغه تعريف هم د ښکلا د موضوعي نظريې دپاره سوی دئ ځکه کله چې موږ حسن يا ښکلا د انسان د جذباتو قوت بولو نو دغه تعريف نه مانع دئ او نه جامع. لکه مخکي چي مو وويله د جذباتو قوت د زياتي بدرنگۍ په حالت کي هم پيدا کيږي او زموږ په يوه تصور کي بې شميره حقايق سره گډيږي خو آن کله کله د يوه حسن په ليدلو سره زموږ د جذباتو قوت شتون نه لري.

خو برک د حسن بيل بيل تعريفونه وړاندي کړې دي. دی حسن يو نسبي شی بولي او وايي چي خدي دغه نسبيت ښکلا راولې دی د شيانو ښه والی ښکلا بولي او د احساس د مخي منځ ته راځي خو کله يې بيا ژبه گونگه پاتيږې او دومره وايي چي حسن دئ،احساسيږي خو تعريف يې نه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



برک حسن داسي راپيژني: ((ښکلا تر زياته حده پورې د شيانو ښه والی دئ چي په انساني ذهن کي په خپله عمل کوې او په دغه عمل کي احساسات برخه اخلي)).

بل ځای بيا داسي وايي : ((د ښکلا څخه زما مطلب په شيانو کي هغه صفتونه دي چي د کومو په وجه په زړه کي محبت پيدا کيږي يا دا قسم څه بله جذبه )).

يا داسي وايي: ((حسن يو نور دئ چي د څيزونو په تناسبي تاثر لوبيږې او دا تناسب پخپله ښکلا ده)).

يا داسي يې تعريفوي: (( د حسن تعريف د ظرافت په شان دئ چي تعريف يې نه کيږي خو د لذت او احساس د مخي يې پيژنو)).

که راسو د برک پورته څلور تعريفونه وه شنو نو ښکلا يو نسبي شی دئ چي په شيانو کي د اجزاوو د تناسب پر بنياد منځ ته راځي او د خوند د پيدا کيدو لامل گرځي.

دا چي د تناسب فلسفه تر يوه حده مخکي ايشاره هم ورته سوې په دې مانا چي مطلق څيز هيڅ شتون نه لرې بلکي حسن نسبي خاصيت لرې.

کانت د حسن دپاره د ضرورت نه شتون او د خوښی احساس شرط بولي. د ده تعريف تر يو حده د حسن د پيژندنې سره سرخوري ځکه کله چي موږ کوم حسين شی ته گورو؛ حتماً موږ ته خوښي بخښي او کله چي د ضرورت نه شتون په اړه وايي نو که څه هم موږ ته ښه خواږه چي کله موږ وږي يو زياته خوښي بخښي خو دا زموږ جسمي ضرورت دئ خو تر يو حده د حسن خوښي بخښل هم د ضرورت د مخي کيږې څه رنگه چي موږ خوړو ته ضرورت لرو هم داسي دجمالياتي لوږي د ارام د پاره حسن ته هم ضرورت لرو او کله چي دغه ضرورت پوره سې نو موږ خوښي احساسوو.

وکړ کانت وايې: (( هغه شی ښايسته دئ چي د څه غرض نه پرته موږ ته خوښي راکي)).

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د کانت خبره موږ ومنو چي بې له ضرورته نو هنرمندان ولې مجسمې او انځورگران انځورونه وباسي ؟ ځکه چې انسان هرڅه د خپل ضرورت پر بنیاد منځ ته راوړي دي. جولین مارس وایي که موږ طبعي ښکلا جمالیات وبولو خو مصنوعي ښکلا به ضروریات وبولو.

جولین مارس داسي وایي: ((گڼ فطرتي څیزونه دي چي نیغ په نیغه سره یې په ځاني ډول ښایسته بللی سو لکه: گلونه، جواهرات، سبزه زار او ښکلی رخسار او څه داسي شیان هم سته چي بنده د ځان د پاره د یوخاص مقصد دپاره جوړ کړې وې د نورو څیزونو علاوه لکه مجسمه انځورونه او داسي نور)).

وروسته لیکي: (( چي جمالیات همیشه په دې شک کي دې چي اوله ډله چي طبعي ښکلا ده او خپله ښایسته دې د حسن سره تعلق لري او دویمه ډله په ضروریاتو پورې اړه لرې)).

خو زما په اند هره ښکلا چي انسان ته خوښي بخښني لامل یې همدا دئ چي انسان ورته ضرورت لرې.

خو السیفرون حسن یواځي د هغو شیانو خاصیت کړی چي په سترگو لیدل کیږې لیکن دی د بلبل خوږ ږغ او د معشوقې د زلفو د خوشبویۍ حسن ته نه دئ ځیر سوی او حسن یو خاص او ځانگړی تناسب بولي. دلته تاسو ته د السیفرون او یوفرانور تر منځ د یو مکالمې یو څو ټکي د ښکلا پیژندني د ښې تشریح دپاره راوړو:

یوفرانور: هر چاته مالومه ده،حسن هغه دئ چي د خوشالۍ سبب وگرځي.

السي فرون: یا داسي نه ده! صحیح خبره داده چي د حسن احساس صرف سترگي کولی سې.

یوفرانور: په عمومي توگه د حسن تعریف داسي نه سې کیدلای چي حسن هغه دئ چي خوښي وبخښې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



السي فرون :زما خیال دئ چي داسي نه سي کېدلای.

یوفرانور نو بیا څرنګه حسن تعریف کولای سو؟

السي فرون: حسن په یو خاص تناسب یا موزونیت کي وجود لرې چي د سترګو دپاره خوندور وې.

یوفرانور :ایا دغه تناسب په ټولو شیانو کي یو ډول دئ یا په مخلتفو شیانو کي بیل بیل دئ؟

السي فرون: مختلف! په دې کي هیڅ شک نسته چي د غوایي تناسب به په آس او د آس به په غوایي کې ښه ښکاره نه سې دغه خبره موږ په بې روحو شیانو کي هم کولای سو.

رابرټ برجز بیا حسن د باطن او ظاهر ګډوله بولي چي د انسان جذبات راویښوې؛دی وایي حسن حس کیږې او د جزبو راپارولو لامل کیږې.

رابرټ برجز وایي:((حسن په هغه باطني اثراتو او د مظاهرو په خوبیانو کي د ټولو نه اعلا اثر دئ چي د احساساتو له لارې د انسان په ذهن کي روحاني جذبات راویښوې)).

هیوم وایي:(( حسن په خپله څه شی دئ؟ دا خو موږ ته مالومه نه ده خو موږ هغه شی ښایسته بولو چي دلکشي ولري او د کوم شي نه چي موږ ته رواني راحت راځي)).

هیوم حسن د راحت حاصلولو لار بولي چي انسان ته راحت ورکوې؛ دلکشي به لرې. دی هم د حسن تعریف دا نه بولي بلکي وایي چي موږ داسي شي ته ښایسته وایو؛ خو کله چي د راحت خبره کوې نو تر ډېره حده د استفادي نظریه ورڅخه ښکاري او هر هغه شی چي ګټمن وې انسان ته راحت ورکوې .

ونکل مان حسن د ګټي شی نه بولي. دی وایي چي که هر څومره یې خوند خراب وې بیا هم د چینې د سپینو اوبو قیمت همغه دئ؛جمال جمال دئ؛ ګټه او نا ګټورتوب پر حسن کومه اغیزه نه کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونکل مان(( د حسن اصلي سرچینه د پرویډ غوندي د انسان ژنده غریزه بولي او حسن د هغه ځایه را بهیدونکې ویاله بولي چي نړۍ خوږوبوې)).

ونکل په دې اند دئ چي حسن د هغو پاکو او شفافو اوبو په څېر دئ چي د چینې د منځ نه را ایستل سوې وې که د دغو اوبو خوند لږ خراب هم وې خو ددې اوبو قدر او قیمت زیات دئ ځکه د ټولو غلظتونو څخه پاکي دي.

دی ورپسي داسي خپلي خبرې اوږدوې: حسن د داخیلي صفت په حیث په عام طور سره د ښه سره تړلی دئ او داسي خیال دئ چي تجزیه نه اخلي دواړو جذبو ته موږ په خصوصي ډول په یو بل ځای کي غوټه ورکړې چي سرچینه یې شهوت دئ.

حسن د یو شي داخلي صفت دئ چي تغیر کوي بدلیږي او رابدلیږي که حسن خاریجي یا مادي وای نو هیڅکله یې ادلون بدلون نه منلی بلکي د دې څه دا مالمیږي چي حسن یو مانوي شی دئ چي د عرض نه یې بللی سو لکه خوند.

حسن صفت دئ او صفت ذات نه سي کیدلای لکه ښه هلک ښایسته جنۍ دنګه ځواني رنګین ماحول. نو ځکه ویلای سو چي حسن د مجردي پدیدي په څېر په نړۍ کي شتون لري او د مادیاتو په لمن کي د ځان دپاره وجود لټوي.

حسن چي هر شی دئ هر رنګه یې تعریف کوئ ارزښت یې ډیر دئ. آسانتیا ګانونه د حسن په هکله وایي: که له تا سره دوې ډوډۍ وې یوه خرڅه که او د لاله ګل ور باندي واخله.

خو کراوز بیا د اسانتیانا نه هم حسن ته زیاد ارزښت ورکوې دی حسن ابدي شی بولي.

کراوز وایي:(( حسن ابدي شی دئ او موږ دا ویلی سو چي دا له پخوا څخه د یو اسماني شي په توګه شتون لري)).

د کراوز د تعریف څخه دا معلومیږي چي حسن تلپاتي څیز دئ لکه افلاطون چي وایي: حسن تلپاتي څیز دئ ګلان ځي او راځي خو د ښکلا او حسن فکر تلپاتي دئ بله خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي کراوز يې کوي چي حسن يو اسماني څيز دئ په دې مانا چي حسن د مافوق الطبيت برخه ده نو ځکه په مادياتو کي حسن تلپاتي نه سي کيدلای.

رمکن وايي: ((هر مادي شی چي موږ ته خوشحالي بخښي او په عموم کي فکر پرې وسې، خصوصيات يې ښکاره وي او سيده په سيده ذهن ته لار وکي او په يو ډول نه يو ډول له ضرورته خلاص وي؛ زه دې ته ښکلا وايم)).

رمکن ښکلا مادي شی بللی خو زما په فکر ښکلا يو عرض دئ که ښکلا په مادي شي کي شتون ولري يا هم مادي سي نو زيات وخت وينو چي يو انسان ښکلی دئ خو د وخت په تيريدو سره يې ښکلا د منځه ځي خو همدغه انسان چي ماده ده پاته وې نو ولي دغه ښکلا با وجود د دې چي همدا انسان پاته دئ له منځه ځي.

نو ځکه بايد ښکلا د مادي شي يو صفت وبولو او دغه ماده ښکلا ونه بولو ښکلا له منځه ځي او منځ ته راځي يو وخت يې صفت جوړيږي خو بل وخت نه.

ښاغلی رياض الحسن د ښکلا په هکله وايي: د درياب پر غاړه چي د ماښام د شفق عکس په اوبو کي په نظر راسي نو د صبر لمن د بنده له لاسه خلاصه سې يا د پسرلي په موسم کي په يو رنگين سهار کي چي د چمن گلونه د نسيم په څپو زانگي،رقص کوي او د غنچو په مخ مسکا لوبيږي نو زړه د صبر بندونه وشکوې کله کله د نامعلومې جذبې له کبله بنده،بې تابه سي او شفق ته د زړه د ارما نونو خون ووايي او کله د بلبل په چغار کي د خپل زړه درد او فرياد اوري. دغه وخت په زړه کي يوه څپه را پورته سي چي زړه په خپله يو لذت حس کړې او چي کله دغه ډول حالت د هر موجود په مقابل کي انسان حس کړې نو هغه مقابل څيز ته حسين وايي.

والټر پيټر وايې:(( حسن جامع تعريف نه لرې ځکه چي حسن يو انفرادي کيفيت دئ او عام قياس پرې نه سو کولی)).

انفرادي کيفيت په دې ډول دئ چي هر څوک يې د ځان له نظره تعريف کوې او پر انفرادي کيفيت عام قياس ناممکن دئ نو ځکه يو جامع تعريف ورته نه سو وړاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای بلکې هر څوک یې د خپل علم او ذوق سره مطابق تعریفوې زه یې یو ډول تعریفوم بل څوک یې بل رقم او بل څوک یې بل ډول تعریفوي.

راسئ چې پښتون فیلسوف غني خان هم د حسن په هکله وپښتو چې څه وایي د ده یو نظم چې حسن ته یې لیکلی دلته را اخلو.

غني خان وایي:

اوه تپوس د مانه مه کړه

سمندر شي څوک تللی

څوک سپوږمۍ شي رانیولی

څوک زهرا شي ښکلولی

حسن پلار د میني او مور د عشق

پکښې پټ دي ټول سپین او تور

دده خیال همه زور د عشق

په سرو شونډو بلی ښکلی اور د عشق

دا بابا د سور او سرور دئ

دا تعبیر د جلال او نور دئ

دا مکه د سترګو خندا کې

دا په هره کوڅه کې طور دئ

د آدم د نوم بس دا یو سبب

د بهار سبب د رڼا سبب

د هوا د ژوند او ارمان قیصه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سرود د رقص او د ژړا قیصه

دا جواب د لکونو سوالونو

نشته هیڅ د ژوندون بل جواب

دا صوفي ته محراب او منبر

لیوني ته کباب او شباب

دی د خیال او رنګ دنیا کي

پلوشه د میني د یار ده

دا د رحم پیغام او وعده د وصال

رالیږلې غلام له دلدار ده

دا د مرګ سبب

دا د ژوند ضرور

دا د ګناه تعریف

دا د میني راز

دا د سوز خوند

دا مستي د ساز

هر نظر یې شراب دی مستي ده

دا د روح لیونۍ میخانه ده

د بنده او اقا د زړه راز دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژوندون او جنت افسانه

دی حسن د تعریف شی نه بولي خو دی د انساني اړیکو سبب حسن بولي آن د انسان اړیکه د خدای ج سره هم د حسن پر بنیاد بولي دی حسن انفرادي ذوقي مسله بولي چي هر څوک یې د خپل ذوق مطابق تعریف کوې حسن انسان ته د سرور او خوشحالۍ بخښونکئ بولي او د حسن دوه ډولونو ته ایشاره کوې چي جمال په نور سره او جلال په خپل نامه سره یادوې.

حمزه بابا بیا حسن د ژوند دویم نوم یاد کړی او د تعریف بار یې د حسن دوړو غورزولی دئ او خپل ځان د حسن په تعریف پسي نه لالهانده کوې خو ارزښت یې دومره بولي چي د ژوند دویم نوم یې یاد کړی دئ.

حمزه بابا وایي:

حمزه ستایه ښکلا چې دا د ژوند بله نامه ده

بې دې نه بل تعریف ډیرې خبرې ډیرې خولې

خو بل ځای بیا حسن د محبت تخلیق بولي او کله چي موږ مینیړو نو حسن منځ ته راځي. که څه هم زموږ عامه مفکوره دا ده چي حسن مینه پیدا کوې خو حمزه د دې خبري پلوی نه دئ بلکي دی وایي مینه حسن پیدا کوې نه حسن مینه. هغه ښکلا پوهان چي حسن معروضي بولي او په خاریجي نړۍ کي یې شتون وایي هغوی حسن د میني پیدا کوونکئ بولي او څوک چي د موضوعي نظریې پلوي دې هغوی حسن د میني پیدا وار بولي.

د غزل بابا وایي:

ښکلی تخلیق د محبت دئ حسن

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه يې تاييد هم يې ترديد کومه

بل ځای کي حسن د خدای ج حسن بولي او دې ته تسليم سوی چي مادي حسن بقا نه لري يواځنی حسن مافوق الطبعي حسن دئ چي انسان ته دايمي سکون ورکوې. او وايي که هر څو خلک حسن توازن ترتيب د اجزاوو ترتيب بولي خواصل کي حسن د خدای ج دئ.

حمزه بابا وايي:

حسن که هرڅو د توازن نه عبارت دی
روح د توازن په دې حسن کې عفت دی
حسن د خالق له خپل جماله عبارت دی
وريې کړو انسان ته چې حامل د خلافت دی

خوشحال بابا حسن د انسان د داخلي تاثر نه د چا پر مخ مينيدل بولي خو دغه تاثر ده څه نه پيدا کيږي دا مسله موغلقه او گونگه که څه هم په دې هر څوک پوهيږي کوم څيز چي موږ متاثره کوې حسن دئ خو سخته خبره دا ده چي موږ دغه تاثر له کوم څه نه او ولي يې اخلو.

خوشحال بابا وايي:

حسن يو اثر دئ چي د چا په مخ کي وسي
نه هغه چي کړه وړه ښه لري صاحب جمال دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو که د ټولو تعریفونو څه یو نچوړ راباسو نو ویلای سو چي حسن د مادي ضرورتونو پرته د حس د لاري د انسان د روح خوشحاله کونکئ جذبه راوستونکئ دئ چي د مقابل شي او خیال د توافق په وخت کي حاصلیږي.

بیا هم نه سو ویلای چي دا تعریف تر کومه حده صحیح او تر کومه غلط دئ او کله هم د مطلق قضاوت دعوه نه سو کولای حسن جذبه پاروي انسان ته خوښي بخښي او د خیالي ایډیال سره یې توافق بیخي ضروري دئ ځکه که د خیالي ایډیال سره توافق ونه کړې نو هیڅ کله موږ ته خوښي نه بخښي. خو یوه خبره باید د حسن په تعریف کي هیره نه سي چي حسن ترس ویره هم د انسان په زړه کي خپره وې کله کله دومره تعجب زموږ په داخل کي و شندې چي هیڅ یې تصور نه سي کیدلای.

حسن د انسان د جذباتو راپارونکئ څیز دئ چې مادي شیانو ته عاریضیږي له منځه ځي او راځي کله زیات وي کله کم په بیا بیا لیدلو سره یې جذابیت د منځه ځي ځکه تنوع پکښي کمیږي او انسان ذهني سکون او ارام بخښي.

حسن د رنگونو امتزاج دئ چي په تناسب کي شتون ولري او د انساني ایډیال سره توافق و ښیي او تر یو حده به نوې والی هم لري.

یوه بله خبره چي زه ور سره زیات سرگردانه یم داده چي انسان د ضرورت پر اساس د حسن غوښتنه کوې یا هم بیله ضرورته که موږ بعضي د حسن تعریفونو ته سر ور ښکاره کو نو دوی د ضرورت پرته خبره دحسن تعریف ته ور ټیله کړې ده زما په فکر بې ضرورته انسان د هیڅ شي غوښتونکئ نه دئ بلکي د انسان ایستیتیکي لوږي انسان دې ته اړ کوې چي د حسن په لیدلو خوشحالي او خوښي ترلاسه کړي.

خو زما په اند که چیرته یې د ضرورت سره د مادي کلمه اضافه سي نو بیا به څه نا څه خبره خوندوره سي.

که په عمومي ډول ووایو څه چي خوند راکئ حسن دئ او کوم څه چي خوند رانه کئ قبحه یا بدرنگي ده ځکه هر هغه شی چي موږ ته خوښي بخښي ښکلی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن عام دئ جلال او جمال يې بيا د اقسامو په ډول منلی سو او قبحه يې متضاد دئ حسن په پښتو کي ښکلا ښایست په عربي کي همدا حسن په لاتین کي ایستیټک او په انګریزي کي ورته بیوټي وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښکلا په هکله نظریې

د پخوانیو لیکوالو د نظریو له مخې ښکلا  په کثرت کې د وحدت په تلاښ کې وه او حسن یې د مافوق الطبیعة سره تړئ او د خیال سره یې اړیکه ورکوله.

یونانیان بیا زیات معروضي نظریې ته تللي وو دوی ښکلا په موزونیت د اعضاوو تناسب او هماهنګۍ کې لیدله. کوم شي چې به دغه صفات درلودل ښکلی وو کوم شي چې به دغه صفات نه دلودل بدرنګ یې بللی.

سقراط حسن پر ګټې بنا کړی وو ده ویل:کوم شی چې ګټه ونه لري ښکلی نه دئ.

سقراط  دا نظر درلودلئ هر شی چې بې فایدې وې ښایسته کیدلای نه سي چې د استفادې نظریه هم ورته وایي او دوی هر څه د انسان د ګټې سره تړل هغه که شعر وې که مجسمه سازي وې که کوم بل هنر وې دوی به بې ګټې شیان ردول او هر څه یې د مادي ګټې تابع ګرځول.ددې نظریې پیرو کسان دومره په مادیاتو کې ورک پاتېږي چې آن د جمال ننداره هم بې ګټې شی بولي.

تهامس ایکونیاس وایي: ((د یو سړي د وجود ښایست په دې کې دئ چې د هغه جسماني اجزا په خپله کې ښه تناسب سره ولرې او ورسره د رنګ د ښکلا  خاصیت چې هم آهنګي ده پکښې موجود وې)).

ایکونیاس حسن په ترتب کې د اجزاوو ولیدئ یعني که له رنګه سړی وچ کلک وي دغه جګوالی ورته ښکلا نه بلکې بدرنګي ده که د واړه مخ سره اوږده پزه ولري بیا هم بدرنګه ښکاري او داسي نور نو ځکه ترتب د اجزاوو حسن دئ.

ورسته ښاغلی ایکونیاس لیکي ښکلا زموږ ادراکي وصف سره تعلق لرې ځکه  هغه ځیزونه ښکلي ګڼلی سو کوم چې زموږ نظر ته حظ ورکوي. ددې دپاره حسن په موزون تناسب کې دئ چې حسیات د دوی په لیدلو خوشحالي حاصلوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی حسن د انسان د ادراک یا خیال سره تړلي برخه بولي یواځي د موجود خاریجي صفت یې نه بولي نوموړی وایي ځکه توازن ته حسن وایو چي په همدې سره مو ذهن ته حظ حاصلیږي او خوند اخلو.

بیکن د حسن معیار تجدید او نویوالی بولي دی زیاتوي که په حسن کي تجدید نه وي نو حسن منځ ته نه راځي چي دا بیا یو نا مکمل حسن بللی سو.

بیکن وایي:(( داسي غوره حسن هیڅرته هم نسته چي په تناسب کي څه نوی والی ونه لري)).

دی حسن د تجدد نه پرته نه بولي نو داسي ښکاري کله چي یو حسن زیات تکرار سي حسن یې د تکرار په اندازه پیکه او بې خونده کیږي یواځي تناسب حسن نه سو بللی بلکي د تناسب تر څنګ یو نه یو ډول تنوع او تجدد هم باید په هر حسن کي شتون نه لري، هغه عربي مقوله ده( کل جدید لذیذ ) هر نوی شی خوندور دئ.

نو کله چي په یوه شي کي هم موزونیت وي او هم څه نا څه تجدد ولرې نو بیا یې د کشش قوه دونه پیاوړې کیږي چي موږ به دې ته نه پریږدي چي بل طرف ته سترګي ورڅه واړوو بلکي په هغه شي کي مو تر هغو سترګي ګنډلي وي چي راڅخه پنا کیږي.

الیکزنډر هم حسن د اجزاو په موزونیت او یووالي کيویني.

سمویل الیکزنډر لیکې:((د ښکلو شیانو ښایست د دوی د اجزاوو په موزونیت او یو والي کي دئ)).

سینټ اګینسټاین هم د تناسب او موزونیت څخه پرته حسن نه وینې.

دی وایي:((حسن په تناسب او هماهنګۍ کي دئ ځکه د هر ښکلي شي په په اجزاوو کي تناسب پروت وي)).

نارولا وایي: (( یوازې غټې سترګي او دنګه پزه د حسن معیار نه دئ بلکه کله چي ددې اعضاوو تر منځ یو ډول توازن وساتل سي نو حسن به منځ ته راسي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیو نارولا لیکي: ((تاسو یوې ښځې ته د هغې د ښایسته پزې او ښایسته لاسونو پر اساس ښایسته نه سئ ویلی بلکې تاسو هغې ته هغه وخت ښایسته ویلی سئ چې د هغې ټول اجزأ همآهنګه وي))

ونکل هم د تناسب نه پرته حسن نهویني.

ونکل مان لیکي: ((تناسب د ښایسته شي یو موهم جز ګڼلی سو)).

اډلسن هم د تناسب پیروی دئ نوموړی وایي: (( تناسب د هغې باطني خوشحالی یوه زریعه ده چې لامل یې ښکلی شی دئ.))

پوپ وایي: (( د ظرافت غوندي چې طبیت کي کوم شیان زموږ پر زړه اثر کوې دا د مخصوصو اجزاو عمل نه دئ دا صرف سرې شنډي توري یا شنې سترګي نه دې چې موږ ورته حسن وایو بلکې د ټولو اجزاوو اجتماعي قوت ته موږ حسن وایو صرف یو اندام انسان په تعجب کي نه اچوي بلکي د ستایونکي سترګو ته ښکلي شی ټول اجزا رامخته کیږي.))

بوالیو حسن د تناسب تعادل نیک مفهوم کي نغاړي.

بوالیو لیکې: ((حسن په اعتدال نیک مفهوم او ادبي تناسب کي پټ دئ.))

کروساز بیا داسي وایي: ((د حسن صفتونه تنوع وحدت باقاعده ګي ده بل ځای بیا د حسن په هکله وایي: په کثرت کي وحدت تناسب موزونیت.))

ډاکټر سید عبدالله لیکې: ((د حسن په هکله سره له دې چې ډیرې نظریې وړاندې سوې خو بیا هم د حسن زاړه صفتونه دې وحدت تناسب هماهنګي)).

جي ډي هارډنګ وایي:تنوع د حسن دپاره ضروري ده او د حسن څه نه بېلیدونکی شی دئ.چیرته چي تنوع نه وي هلته به حسن نه وي نو څرنګه چي تنوع د حسن دپاره ضروري ده؛همداسي د کامل حسن دپاره لامتاهي تنوع ته اړتیا ده دغه لامتناهي تنوع ده چي د فطرت تکمیل کوي او ددې په نه شتون کي د هنر هر کار نیمګړی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیم کانگرو لیکي: ((د تناسب نه پرته یو شی هم ښایسته نه دئ چیرته چي تناسب او هماهنگي نه وي نو هلته نه د چا سترگي خوړېږي کیږي او نه د غوږونو دپاره خوښي پیدا کیږي)).

جې تي فشرز درې اصول وړاندي کوي او وایي که دا درې اصول یو ځای سي ښکلا رامنځ ته کیږي لکه په کثرت کي وحدت مطابقت ،وضاحت ،صداقت.

فرویډ د انسان جذبات او احساسات د انسان د ړندې غریزې یعني شهوت سره وتړله او په خپلو تجربو سره یې دا ثابته کړه.

فرویډ ادب ښکلا او هنر د انسان د ړندي غریزې یعني شهوت څخه وبلل او ده وویل چي ادب هنر او ښکلا د شهواتي حس نه سرچینه اخلې.

د فرویډ نظریه د افلاطون د نظریې سره نژدې ده او د انسان په اندرون کي یې ښکلا ځای پر ځای کړه حسن ایډیال بللی او دغه ایډیال تل پاتي وو ده ویل ښځې او گلان خو نه پاتیدونکي څیزونه دې او مرې خو د ښکلا ایډیال او فکر تل پاتي دئ .

دی د ښکلا د خاریجي شتون څخه منکر و او ښکلا یې د فکرونو زیږنده بلله ده ویل هیڅ کوم شی ښکلی او بدرنگ نه دئ بلکي ښکلا او بدرنگي د انسان په حواسو کي شتون لرې.

هغه ویل هغه تابلو یا انځور چي په خیال کي جوړیږي هغه باید د اجزاو ښکلا او جزابیت زیات وې او کله چي هنرمند د طبیت په تقلید یو هنر پنځوې په خپل خیال د طبیت څخه فاصله اخلي او په خیال کي حسن ایډیال شکل ږدي او بیا د هغه څه خپل هنر پنځوې.

افلاطون ویل نو ځکه ټول ښکلي موجودات په کایناتو کي نه بلکه قدرتي ښکلا ده او د الله ج د جمال په ښکلا کي شامل دي او هیڅ واټن نه ورسره لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ځکه کله چي هنرمند کله يو هنر پنځوي نو د حقيقت څخه لري والى غوره کوي او د تصور په نړۍ کي ځانته حسن لټوي چي غني خان هم خپل د جانان حسن تصور کي جوړولئ غني خان وايي:

زه يم ناست ځان له جانان يو تصور کي جوړومه

کله يې سترګي تورومه کله يې شونډي ښکلومه

او خوشحال بابا هم انسان د خداى ج د قدرت نظاره بللي او په هرڅه کي يې د هغه مخ ننداره کوله چي د ډيري پيدا کيدو څه ور څه ناپديد وو خوشحال بابا وايي:

په هر څه کي ننداره د هغه مخ کړم

چي د ډيري پيدايۍ څه ناپديد سو

خوشحال بابا هم انسان د خداى ج د جمال او قدرت نظاره بولي او په هغه کي د خداى کمال مطالعه کيدلاى سي.

خو ارسطو چي د افلاطون سره هم عصره فيلسوف ده ويل ښکلا په شيانو کي ده موږ هغه وينو او درک کوو يې ارسطو د خاريجي ښکلا شتون منلى خو ويلى چي هنر يواځينى شى دئ چي موږ ته ايډيال انځورونه وړاندي کوې.

د هنر ښکلا تر طبعي ښکلا لوړه ده. ځکه که څه هم ښکلا په شيانو او کايناتو کي ده خو هنرمند صرف د هغه نيمګړتياوي اصلاح کوې او هغه د بشپړ ښايست په څير وړاندي کوې.

ارسطو وايي چي:(( کاينات د خالق هنر دئ اوهغه تر ټولو ښه هنرمند دئ او کولاى سي چي تر ټولو ښه ښکلا په کايناتو کي منعکسه کړې.) )

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميا محمد شريف ليکي: حقيقت دادئ که نن ماته يو منظر ښکلی نه مالميږي خو پرون راته ښکلی ايسيدئ يعني که نن ماته دغه منظر يو عام منظر ښکاري خو پرون راته جمالياتي حقيقت ښکاريدئ نو ددغه فرق وجه د منظرې د مستقلو صفاتو سره تړل ښه کار نه دئ بلکي ددې باعث زما د ذهن يو خاص عمل دئ.

دی حسن او ښکلا زموږ د خيال او فکر برخه بولي دا چي خيال او فکر بدليدونکئ دئ همداسي زموږ د ښکلا زوق او زموږ د پاره په بهرنۍ نړۍ کي ښکلا بدليدونکې ده.

اسپينوزا هم د ميا محمد شريف غوندي د خيالي ښکلا پلوې کوې او ښکلا د انساني فکر زيږنده بولي دی په نړۍ کي يا په خارج کي د حسن او قبحي پلوی نه دئ بلکې د ښکلا بدرنگۍ د پيدا کيدو لامل زموږ فکر بولي.

دی وايي:(( په کايناتو کي خو نه کوم شی ښايسته دئ نه بدرنگه دا يواځي د انسان خپل موضوعي کيفيات دي چي د کومو په سبب يو شی ښايسته يا بدرنگه مالميږې. زه تاسو ته وايم چي په فطرت کي حسن او قبحه نسته نه ترتيب ورسره تړم،نه بې ترتيبي،شيانو ته زموږ خيال ښکلا او ښايست ورکوي)).

ډيويډ هيوم هم ښکلا په زړه کي بولي او د خارج څخه يې نفي کوې.

دی وايي: (( حسن په شيانو کي کوم صفت نه دئ دا صرف په هغه زړه کي وي چي د دوی په هکله فکر کوي نو ځکه هر زړه د يو بيل حسن ننداره کوي امکان لرې چي يو شی دې يوه انسان ته ډير ښکلی وې خو بل کس ته بيخي ښکلی نه وي)).

ايف کريټ هم په مجرده نړۍ کي ښکلا نه مني دی ښکلا د خوشحالۍ او مبني په څير بولي دا چي مينه او خوښي په مجرده نړۍ کي ده همداسي حسن هم کوم شتون نه لرې.

دی وايي: (( کوم شيان چي موږ نوې گڼو ددې د موازنې دپاره دا فرض گڼم چي په دغو څيزونو کي يو مشترک صفت نسته ولي د دغو ټولو شيانو په حقله دا زموږ موازنه ده)) .(

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی خپلي خبرې داسي غزوې خوشحالي زموږ د ذهن نه بهر هيڅ وجود نه لرې او دغه مثال د مينې هم دئ چي د ذهن نه بهر وجود نه لرې.

فروفيسر ايير کرامي هم بهرنۍ نړۍ کي د حسن د شتون څه منکر

دی وايي:((په عام ډول د فن او جمالياتو دپاره ځيزونه وجود نه لري او که وجود ولري نو هغه تجربې دې.))

او حسن د شيانو صفت نه دئ بلکه د شيانو د تجربو پر بنا د حاصل سوي انداز نوم دئ.

د جمالياتو يو عالم کروچي وايي:((فطرت د هغو خلکو دپاره ښايسته دئ چي د هنرمند په سترگو ورته وگوري. کله چي څوک د فطري حسن سره مخ سي نو د هغه مثال داسي دئ لکه لکه د تلاب پر غاړه چي نرگس ولاړ وې)).

دا چي څوک حسن خارج څوک داخل کي بولي خو له دې څخه انکارکول سخت دی چي په حسن کي د نيمايي نه زيات د خارجي موجود لاس دئ کوم چي موږ ښکلی بولو او هيڅ انکار ورڅخه نه سو کولای.

کرنلي زيسکي خپل فکر داسي وړاندي کړی دئ (( فکر کوم چه هيڅوک به په دې کي ترديد او شک ونه لري په طبعيت کي حسن او ښکلا وجود لري ښکلا زموږ تر ذهني عواطفو مستقله او اخواته پرته ده.)

سعيد احمد رفيق صيب هم دغه خبره تاييدوې چي د حسن خارجي څخه انکار نه سي کيدلای.

دی وايي: ((حسن په حقيقت کي نه موضوعي دئ نه معروضي بلکه دا د موضوع او معروض شاهد او مشهود تر منځ د يو خاص تعلق نوم دئ.))

ميا محمد شريف بيا ليکي: ((حسن د موضوع او معروض گډه نتيجه ده چي د يوې ريشتې د مخې منځ ته راځي.)) ( پورته مأخذ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ په جمالياتي تجربه کې موضوع او معروض دواړه د يو بل سره نه شليدونکي اړيکې لرې.

دلته ميا محمد شريف يوه معتدله لاره نيولې چي د خيال او خارج د امتزاجه لاس ته راځي او ددغو دوو توافق حسن دئ سارتر هم د امتزاجي نظر يې پلوی بريښي.

او وايي: ((حسن د وحدانيت خوبي لرې د حسن دپاره د دوو اجزاو اتحاد ته اړتيا ده يو مرئ او بل مخفي.) )

تهامس ايکونياس هم د خيال او خاريجي شي تر منځ توافق کول حسن بولي.

دی وايي:(( د حسن دپاره نه يواځي په مشهود کي د اجزاو هماهنگي لازمه ده بلکې دغه هماهنگي د شاهد په نظر راتلل مهم او ارزښتناکه دي)).

اي ايف کيرټ بيا دغه موضوع يوه جنجالي موضوع بللې ده او وايي: ((حسن معروضي دئ که موضوعي؟ ايا يو شی په ځاني توگه ښکلی کيدلای سي يا دا زموږ خيال دئ ؟دا يوه جنجالي خبره راته ښکاري.) )

نيما يوشج هم د حسن د خارجي شتون سره توافق ښيي دی ښکلا په محبوب کيويني او حسن د جانان د گل غوندي بدن خاصيت بولي وايي:

وان گل خد خواه خد اراسته

به همه ی حسن به پيراسته

محبوب يې د گل غوندي ښايسته دئ او ټول حسن يې د محبوب په مرمرين بدن کي ځای پر ځای سوی دئ.

خوشحال خان خټک هم حسن کله کله د خپلي معشوقې په نازکو اندامونو کي گوري دی زيات عمر ښايستې پيمخي ستايي د هغوی سپی غاښونه لب شکره مو کمره او ... راسئ د خوشحال نه يې واورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال بابا وايي:

ډيري لري نښي د صورت د زيبايي

څو درته وايمه څو نښي اشکارا

دنگه تازه کنکه قد عرعره مو کمره

ښه يې تر گلونو د گلابو عذارا

غاښ يې در گوهر په لب شکر ابرو کمانه

تور باڼه ناوک په دواړه سترگو خونخوارا

هار د جواهرو دوه لړۍ د ملغلرو

تور وربل ودلی زلفي يې عنبر سارا

واړه يې دتن جامې گلگوني زرنگاري

درسته سره لمبه وه چا ليدله خدارا

وحشي بافقي هم د حسن دپاره خورا زيات بيتونه لري او د حسن د خاريجي وجود تاييد کوې وحشی بافقی وايي:

عشوه پرست من بيا می زده مست وکف زنان

حسن تو پرده گو بدر پردگيان راز را

يا دا بيتونه

دل ز فريب حسن او بزم فسوس و اندرو

انجمنی به هر طرف آرزوی محال را

(c) ketabton.com: The Digital Library



حد وحشی نیست لاف آن سلطان حسن

حرف باید زد به حد خویشتن درویش را

من رند و گدا و او پادشه حسن

با همچو منی کی شود از عار مصاحب

باز آ و حسن جلوه ده وعرض کن

کان دل که بود صاف چو آینه باقی است

تقصیر در کرشمه وحشی نواز نیست

هرچند دون مرتبه شان نواز تست

اخر ای صاحب متاع حسن این دشنام چیست

در سر درویزه گر ازما دعایی سر زدست

شهر بیم است کزین حسن پرآشوب شود

این قدر نیز نباید کسي خوب شود

نی جوهر حسن لاله است از ژاله

نی زیور خوبی گل ز شبنم

د خارجي حسن د شتون د نظریې دپاره د وحشي بیخي زیات شعرونه شتون لرې . خو داسي نه ده چي وحشي یواځي د خارجي شتون نظریه تاییدوې بلکه دی دا هم وایي چي ښکلا په تا کښي نه ده بلکي ښکلا زما په فکر،عشق او احساس کي ده. راسئ چي د وحشي دغه نظریه هم دده په شعرونو کي وګورو او د حسن افلاطوني نظریه به د وحشي د شعر په شرنګ کي مطالعه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وحشي وايي:

شهرت حسن کند زمزمه عشق بلند

شد ز یوسف سخن عشق زلیخا مشهور

مغرور حسن خد مشو و قصد ما مکن

کاین حسن تست از اثر عشق پاک ما

وحشي د حسن د شهرت زمزمه عشق بولي چي د انسان د اندرون څخه خوړوبيږي او د معشوق حسن هيڅ هم نه بولي او وايي چي ته ښايسته نه يې او نه په تا کي کوم ښايست سته بلکي دلته زما عشق تاته ارزښت درکړی او ستا حسن يې زيات کړی دئ.

ملک الشعرأ بهار هم حسن د فکر برخه بولي او وايي د اياز ښايست هيڅ کمال نه درلودلئ بلکي د محمد په فکر کي د هغه دپاره ښکلا وه او د محمود عشق و چي اياز ته يې ښايست ورکئ کني نو اياز خو هيڅ ښکلا هم نه درلودله.

بهار وايي:

اینکه بینی در همه گيتي سمر شد

عشق محمودی است نی حسن ایازی

عاشق از خوبان وفا و مهر خواهد ورنه هست

آب ورنگ حسن صوري پرده تمثال را

خو بل ځای همدا بهار د خاريجي حسن د شتون څخه نه خلاصيږي او د يار د حسن او ښايست په صفت چغي وهي او وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسجد حسن تو از خط شده ویران

طاق ابروی تو محراب نماز است هنوز

وین پریرویان پریزادند وبس

و ز جمال و حسن خد شادند و بس

دی جمال د یار بولي او د یار صفت یې بولي نو ځکه حسن د یار صفت بولي او یار ته یې منصوبوې.

غني خان هم حسن د خیال او فکر برخه بولې او د جنت او ژوند افسانه ورته ښکاري .

په یو بل نظم کي د میني او حسن په هکله غني خان حسن په ظاهري نړۍ کي ویني ستوري وایي چي موږ ته خدای ج یواځي حسن راکړی دئ او بس.

غني خان  مینه د حسن کمال بولي او حسن تر میني غوره بولي.دی حسن د میني سایه بولي چي په کایناتو کي منعکسه ده.

غني خان وایي:

ستوري ته اسمان کي یوه ورځ ووې هلال

خدای آدم ته مینه ورکړه موږ ته تش جمال

زه به په خندا ورکم دا خپل حسن جمال

ماله که یو څاڅکی مینه راکړي څوک په

مینه حقیقت حسن سایه ده حقیقت ده

حسن له زوال سته مینه نه لري زوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ فلکلور هم د جمالیاتو په هکله زیات څه لرې چې زیاته برخه یې د بهرنۍ ښکلا نظریه تایید کوې او ښکلا د طبیت برخه بولي

یوه ټپه وایي:

حسن دي کم ظلم دې زیات دئ

خلک د حسن مطابق ظلم کوینه

دلته حسن د محبوب بولي او خاریجي شتون یې مني نه د افلاطون غوندي چې د فکر او خیال برخه یې بولي بلکه حسن د انسان په توازن کي ګوري او خپل محبوب ته د حسن د کم والي پیغور او د ظلم د ډیر والي پیغور ورکوي او وایي چې حسن او ظلم باید متوازن و ساتل سي.

د سالک په یوه لیکنه کي د حسن درې واړه نظریې چې حسن خاریجي شتون لرې حسن په خیال کي دئ او حسن د خیال او خارج توافق دئ په دې یو ټپه کي څیړل شوې دي:

زما په سترګو ورته ګورئ

جانان ښایسته دئ که رب زه لیونۍ کړمه

په پورته ټپه کي لمړی وایي زما په سترګو ورته ګورئ چې مقصد جانان ښایسته نه دئ مګر زما لیونتوب د هغه حسن زیات کړی دئ هغه د مجنون مشهوره کیسه ده چې کوم لیکوال رانقل کړې خو ذهن کي مي همداسي راځي چې د مجنون څخه چا وپښتل چې لیلا خو دومره ښکلې نه ده نو ستا دومره مینه ورسره څنګه پیدا سوه چې د جنون تر حده مینه ورسره لرې مجنون یې په ځواب کي وویل چې ته زما په سترګو ورته ګوره چې لیلا څومره ښکلې ده.

بیا هم ټپه وایي جانان ښایسته دئ چې د خاریجي حسن د شتون خبره کوي او حسن د جانان صفت بولي او نسبت یې هم جانان ته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو کله چي ټپه کي استفهام انکاري دئ نو دلته د خیال او خارجي حسن مشترکه دنیا زیږوي چي څه د ده حسن او څه زما لیونتوب دئ چي دواړه یو ځای سي نو بیا حقیقت کي ښایست ورځخه جوړ سي.

نظامي گنجوي د پارسي ژبي شاعر هم حسن د محبوب برخه بولي او د محبوب صفت يې گرځوي که گنجوې حسن په محبوب کي ونه گوري هیڅ کله نه وايي:

هرکس به ولایتی ومالی

می جست ز حسن او وصالی

یا دا بیت

تا در آری به حسن او نظری

جلوه ای دادمش به هر هنری

گنجوې وايي چي هر څوک په مال او ولایت سره د محبوب د حسن وصال غواړي یا څوک چي د محبوب حسن ته نظر وکړي نو په هر کتو جلوه ورکوې. دلته حسن د محبوب صفت سو نه د انساني فکر یعنې گنجوي په خارجي حسن قایل دئ.

فولټیر فرانسوي فیلسوف د جمال په هلکه په خپل قاموس فلسفي کي لیکي : ((که د چنگښي څخه وپښتل سي چي ستا په اند به حسن څه شی وې نو درته وبه وايي هغه چنگوښه چي په کوچني سر کي دوې راوتلي غټي غټي سترگي ولرې.

یا د شیطانه پوښتنه وسي چي ښایست څه دئ؟ نو دی به هغه شیطان چي دوه ښکره څلور نوکان او وږده لکۍ ولري وښيي.

او که دغه پوښتنه د فیلسوف څخه وسي نو دی به هغه مخ چي انسان په تعجب کي اچوي حسن وبولي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د پورته نظريو څخه به دا نتيجه واخلو چي د حسن دپاره درې نظريې زياتي مشهوره دي.

۱: د حسن خارجي نظريه: دغه نظريه د ښکلا پر خارجي شتون راگرځي او حسن د خارجي څيز صفت بولي انسان ښايسته انسان بدرنگ دئ څومره ښکولې جينۍ ده يا څه ښه منظره ده چي ښايست د طبيت او موجود خارجي صفت گرځي ښکلا د انساني فکر زيږنده نه ده چي ارسطو هم ددې نظريې پلوی دئ .

خو پر دې نظريې بيا دا انتقاد دئ چي هغه شی چي د افغانستان خلکو ته ښکلی دئ د چين خلکو ته ولې نه دئ ښکلی.؟ کوم شی چي د چين ښکلا جوړوي هغه د افغانستان د خلکو دپاره حسن نه دئ آن! د يوه کلي د حسن معيار د بل کلي له معيار سره توپير لري او د بل کلي د حسن له بل سره نو که په خارج کي ښکلا شتون ولري؟نو هغه شی چي د افغانستان خلک يې ښايسته بولي بايد د هند او اروپا خلک يې هم ښکلی وبولې.خو داسي نه ده د افغانانو دپاره کيدای سي غټې سترگي،جگه پزه، وړه خوله،نازک شنډان او دنگ قد سپين مرمرين بدن نرم پوست خو د اوروفا خلگ بيا غټه پزه لوی شنډان ډبل پوست ښه تک تور او داسي نور.

نو هيڅ کله د اروپا حسن ته افغانان حسن نه وايي او د اروپا حسن په چين کي نه چليږي.نو دغه نظريه داسي نقد کوې.

۲: د حسن معروضي نظريه : دا نظريه وايي چې حسن په خيال کي دئ او په خارج کي هيڅ ښکلا او بدرنگي نشته يعنې ښکلا د ذهن صفت دئ؛ نه د خارجي نړۍ.

دوی د خپلي خبري د استناد لپاره وايي چي څرنگه د انسانانو فکرونه مختلف دي؛داسې يې معيارونه هم د حسن لپاره مختلف دي آن! د يوه انسان د فکر په بدليدو او د وخت په تيريدو سره د حسن معيار يې هم بدليږي.

دلته به د انساني فکر د اختلاف دپاره دوه بيتونه د دوو شاعرانو راوړو چي د حسن معيارونه يې څومره مختلف دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمان بابا وايي:

زه رحمان په زړه نری کړم هغه ترکو

چي يې ملاوې د ويښته په دود نرۍ دې

حمزه شينواری بيا وايي:

زه برندي سترګي دا شډله ځواني حسن ګڼم

نه نرۍ ملا لکه ويښته نه مړاوي توري سترګي

دلته دوه معيارونه د حسن دپاره د دوو شاعرانو لخوا چي تقريبا په يوه جغرافيوي سيمه کې اوسېدلي بياهم بېل ،بيل دي.

رحمان بابا داسي ترکې خوښوېي چي نرۍ ملا ولرې او لاس ورنه اسانه تاو سي خو حمزه شينواری د حسن معيار بيا برندي سترګي او شډله ځواني ده چي لاس ورنه چاپيره کي غيږ درته ډکه کړي حمزه شينواري ته مړې سترګي او نرۍ ملا حسن نه ښکاري.

۳: امتزاجي يا ګډه نظريه: دغه نظريه ددې دوو نظريو د ګډون څخه په لاس راځي او حسن د خارج او خيال امتزاج بولي دوی وايي چي د يوه لاسه ټک نه خيږي کله چي خارجي حسن د خيالي ايډيال سره توافق وکړې نو دلته حسن په پوره توګه ځان را ښکاره کړې او د حسن ريشتونې ځيره منځ ته راشي.

زما په اند د حسن خارجي نظريه نسبت موضوعي نظريې ته ښه او خوندوره ده ځکه ډير داسي ځيزونه دې چي د نړۍ هيڅ فرد ته به خوند نه ورکوې او نه به ورپکښې ښکلا وګورې. حسن د انسان طبعيت او ممکناتو صفت دئ او په خارج کي شتون لرې.

قرآني ارشادات هم ټول ددې قايل دي چي حسن د موجود خارجي برخه او صفت دئ نه د خيال.چي د فطري ښکلا په بحث کي به يې وګورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوکله چي د ښکلا د ارزښت خبره کيږي نو ارزښت له يوې خوا نسبي څيز دئ له بلي خوا د انسان د ذوق سره هم اړه لري که موږ چيري ووايو چي خوږ خوند دنيا کي نسته دا خبره يوه غير معقوله خبره ده او که ووايو چي خوږ خوند ښه خوند نه دئ دلته د ذوق خبره ده چي زما ذوق د خوږ خوند سره جوړ نه دئ همداسي کله چي زه يوه ښکلې جينۍ ووينم او ووايم چي دا جينۍ ښکلې نه ده دا مانا نه چي جينۍ ښکلې نه ده بلکي دلته زما د ايستيتکي ذوق سره يې سمون ونه خوړئ په دې راته ښکلې نه سوه.

لکه څرنګه چي موږ د خوند د حس دپاره حواس لرو هم داسي په خپل روحي دنيا کي د ښکلا د حس دپاره ذوق لرو چي دغه ذوق مو بدلون کوي مثلاً که ماته د ناشناس ږغ خوند نه راکوې دا زما د زوق ستونزه ده نه د ناشناس د ږغ.

ښکلاييز ذوق په ټولنه کي روزل کيږي،لوړيږي او ټيټيږي.موږ د خارجي ښکلا لپاره خيالي ايډيال دلته جوړوو بيا يې ددې ايډيال مطابق ګورو او ښکلی څيز ورته وايو مثلا زه په يوه ټولنه کي اوسيږم او زما د ښکلا ايډيال له ماشومتوبه څخه په دې ټولنه کې داسې روزل شوی چي ماته هغه څوک ښکلی ښکاري چي بادامي اوږدې اوږدې سترګي،دنګه پوزه، وړه خوله،سپين غاښونه او داسي نور ولري دغه فکر زما په ذهن کي يو ايډيال جوړ کړي کله چي ددغه ايډيال مطابق شخص وينم نو بيا ورته ښکلی وايم.

دا چي خيالي ايډيال هيڅ هم نه دئ صرف د ښکلا دپاره زموږ انفرادي يا ټولنيز تعريف دئ نو هيڅ کله خيالي ايډيال ته د حسن او ښکلا نوم نه سو ورکولای بلکي حسن په هغه شي کي کيدلای سي چي دغه ذهني تعريف ور سره سر وخوري.

کله چي موږ په نړۍ کي حسن خيالي کوو نو مجبور يو چي ډير شيان خيال وبولو آن د خپله شتونه هم منکر شو مثلا ښه او بد چي د انسان اخلاقي حسن دئ او د جمالياتو برخه ده موږ يې د شتون څخه انکاري کيږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انساني حسن

دا هغه پښتنه ده چي د ښکلا په هکله تر نظريو وړاندي کولو وروسته بايد جواب سي چي کوم شی ښايسته کوم بدرنگ دئ خو دا موضوع هم د بيلابيلو ليکوالانو په نظرونو سره بدرگه کوو .

سقراط د ښکلي شي په تعريف کي ځان پاتې بولي او وايي چې حسن يواځي ښايسته مخ،سخاوت گڼه،سره زر او سپين زر نه دی اونه هم ښکلا کوم داسي صفت دئ چي موږ يې خارجي شي کې شتون ثابت کړو بيا يې تعريف کړو بلکي ښايست په خپله يو موجود خاريجي دئ چي شيانو ته عاريضيږي او طبعيت ته ښکلا بخښي نو ځکه هيڅ داسي شی نسته چي پوره حسن پکښي شتون ولري او خپلي خبري داسي غزوې کله چي موږ د هغه شي څخه چي موږ يې وينو فاصله اخلو نو د ما فوق الطبعي جمال نندارې به وکړو دی وايي د ښه ميني نه ورسته موږ بايد د حقيقي جمال پر طرف ولاړ سو او د کايناتو د ښکلا نا فاصله واخلو لکه ښکلا چي په درجو سره پورته ځي مثلا د يوې ښکلا څه دوو ښکلاگانو ته ارتقا وکو له دوو څه وه ښو کړنو ته ارتقا وکو او د ښو کړنو څه ښو عولومو ته .

خو کوم شی ښکلی دئ رحمان بابا وايي:

زه رحمان په زړه نری کړم هغو ترکو

چي يې ملاوي د ويښته په دود نری دي

رحمان بابا د هغو ترکو ستاينه کوې چي د ويښته غوندي ملاوې ولري.

خو فلکلور کي د جانان ښايست داسي انځور کيږي څو کاکړۍ غاړي ليکو چي د کوم شي په شتون سره ښايست په انسان کي انځوروې.

کاکړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



توري سترګي جګه غاړه

اوس دغه ده کور ته ولاړه

توري سترګي غوړ پیکی

بازار یې ټول کړ لیونی

خدای درکړي سترګي غټې

د پنجاب یې که د کوټې

سپینه خوله لکه ګیلاس

د مزدورۍ نه یم در خلاص

سپینه خوله دې غونډه منډه

بورې رب دې که را کونډه

په پورته کاکړیو کي د انسان لپاره د غټو سترګو ستاینه زیاته سوې او د سترګو په غټوالي او توروالي سره د انسان د حسن اندازه کوي

بلکي جګه غاړه هم د انساني حسن یو برخه بولي لکه یو متل دئ وایي داسي غاړه یې وه لکه د بتي چي د جګي غاړي پر ښایست باندي د انساني ښکلا زیاتیده ښيې.

یا دا څو ټپو ته ځیر کیږو چي په انسان کي کوم جمال ننداره کوي:

زلفي مي مه لنډوه مورې

په سر پرېکړو ونو نه کښيني بازونه

په پورته ټپه کي د اوږدو زلفو درلودل د حسن معیار بلل سوی دئ او وایي چي لنډې زلفې څوک نه خوښوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال بابا بیا انساني ښایست ته بیخي زیات صفتونه راوړي لکه خندرویه څهره د سنبل غوندې ویښته، د ګل غندې مخ، د هوسۍ غوندې سترګي، تیز نظر، ښکلي غمزې، غرور،بي باکي باریکه ملا، خوږې شونډي او بعضي نور صفتونه یې په لاندې شعر کې ګورو:

که غواړم نه یې وینم هسي ستا غوندي مهوشه

خنده رویه سنبل مویه ګل عذاره بیال کشه

سمن بره قد عرعره موکمره لب شکره

آهو چشمه څړه خشمه مهر ژنه منقشه

دلنوازه سرفرازه چشم بازه عشوه سازه

تېز نظره غمزه ګره په دوو زلفو مشوشه

سربلنده،خود پسنده ،خد نمایه ،دلربایه

د عاشق د ځان بلا په رنګ زیبا په خوی آتشه

طربناکه تل بیباکه ګریوان چاکه تش تپاکه

زړه یې سخت لکه په مخ یوه آینه بې غشه

حنان بارګزی د معشوق حسن خمي ورځې مات باڼه ګل مخ تنګه خوله یادوې او د حسن هم دغه معیار بولي دی وایي:

ابرو خم مژګان خدنګه

بری څوک وړي ستا له جنګه

په مزاج دي نه پوهیږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مخ ګله په زړه سنګه

بوسه را د خط په وخت کي

چي نوش کړم پياله له بنګه

که يې اخلې تاته ښايي

باج د حسن له فرنګه

له غيرته ستا د خولې سوه

غونچه هسي په زړه تنګه

کاروان صيب بيا د دنګ معشوق په صفت نه مړيږي هر ځای چينار يادوې او دنګه ځواني يې حسن بولي:

چوپ شمه که ووايم چي دنګه ياره تا ښيم

خلک راته وايي چي کاروانه چنار څه مانا

د کاروان صيب له دې بيت سره د فلکلور په يوه ټپه کي هم دنګه ځواني ياده سوې او دنګ قامت يې د پيغلي خوښ کړی دئ:

ياري د جګي پيغلي خوند کړې

تر پلو لاندي سړی غلی تېروينه

کله بيا سپين واله د حسن معيار دئ او تورې جينکۍ په فلکلوريک ادب کي د بنګړو خرڅولو ته استوي:

هلک چي تور سې لونګين سې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جینۍ چي توره سي بنګړي دي خرڅوینه

د ښکلا لپاره څوک مرمرین بدن شرط بولي، څوک غټې سترګې، څوک دنګه غاړه، نازک شنډان او... خو د زیاتو ښکلا پوهانو په اند د اجزاوو تناسب ښکلا زیږوي.

نو ویلی سو هر شي کي چي د اجزاو تناسب پیدا سي جذابیت پیدا کوي او دغه جذابیت د انسان استیتیکي حس اراموي نو دغه ترتیب حسن دئ او دغه شی چي متناسبي او مترتبي اجزاوي ولري ښکلی او حسین دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جمالياتي حس

د جمال ارزښت بې له جمالياتي حسه هيڅ نه دئ او د جمال تصور بې له دغه حسه نا ممکن دئ نو ځکه د جمالياتو په علم کي يوه مهمه موضوع د جمالياتو د علم جمالياتي حس دئ.

موږ ته خدای (ج) د بېلابېلو شيانو د حس لپاره پنځه ظاهري حواس راکړي دي چي صامعه باصره، شامه، لامسه او ذايقه دي. د جمالياتو په حس کي ټول حواس اهميت لري خو باصره د ليدلو حس او سامعه د اوريدلو حس او شامه د بوی حس زيات مهم دي.

خو ددې حواسو څخه سوا خالق د انسان په داخل کي يو بل حس پيدا کړی چي د جمالياتو پوهانو قلب يا زړه ياد کړی چې د د يوبو په نوم عالم دغه زړه د انسان شپږم حس بللی او هم يې د جمالياتو د حس احساسوونکئ بللی دئ.

ديوبو وايي: (( انسان د يو شپږم حس لرونکئ موجود دئ چي هغه زړه دئ او دنده يې داده چي د حسن نه تأثر اخلي که چرته کوم بنيادم دغه حس نه لري نو هغه د حسن نه تأثر نه سي اخيستلی لکه ړوند چي د ښکلو منظرو د ليدلو څخه بې برخې وي.))

اوس زړه د حسن د ادراک حس سو خو دغه لين بيا سترگي، غوږونه او پوزه جوړوې .

بايد تل دا په فکر کي ولرو چي زړه کله د ميني ځای بلل کيږي د حس او ادراک دپاره استعمال سي نو غوښين زړه ترې مقصد نه دئ بلکي دا هغه قوت دئ چي د انسان د دماغ غوندي کار کوې ادراک کوي احساس لري دغه زړه د ادب او فلسفې سره سر وکار لري هغه د غوښو ټوټه زړه هغه د طب والاو موضوع ده.

دغه زړه چي کله هم ښايست ويني عکس العمل ښيې او د حسن څخه متاثره کيږي زموږ دغه زړه مينه کوې او د ميني متضاد هم د ده کار دئ چي کرکه ده له چا سره مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوې او د چا څه بیا کرکه کوې. خو که د کوم انسان دغه حس نه وې یا کار نه کوې نو د دنیا د ژونده به خوند وانخلي.

دا داسي مثال لري لکه په کمره کي میمري؛ زړه میمري غوندي دئ او دغه لینز ورته ظاهري حواس ورکوې.نو کله چي ظاهري حواسو د یوه حسن په لیدلو باندي خپل لینز مصروف کئ نو بیا ورسته ورته زړه ښه راغلاست وایي نو یا ور سره مینه کوي او یا بې تپاوته پاتیږې یا هم ورنه کرکه کوې.خو دا چي د چا سره ولي مینه کوې او د چا څه کرکه او د چا په مقابل کي بې تفاوته پاتي کیږي ځکه چي ذوق همدا فیصله کوې او دغه فیصله د هغو قوانینو پر اساس کوې چي ذوق د حسن دپاره ټاکلي يې.

سیسرو وایي: ((حسن یو تنزیهي شی دئ چي د تصور په دام کي نه راځي حسن که د حواسو په گرفت کي راهم نه سي خو بیا يې هم زړه احساس کولی سي.))

حسن یو تنزیهي شی دئ په دې مانا چې مادي نه دئ بلکي مجرد څیز دئ او چي مادي نه سو نو تصور يې نه سي کیدلای ځکه تصور د یو شې صورت په ذهن کي جوړول تصور دئ دا چي حسن هیڅ صورت نه لرې نو څرنگه به په ذهن کي جوړ سي نو د حسن تصور نه سي کیدلای بلکي احساس کیدای سي لکه: غم خوشحالي موږ د غم او خوشحالۍ کوم تصور نه سو کولای خو په څومره شدت سره هغه احساسولای سو. همداسي موږ حسن یوه مجرده پدیده بولو چي تصور يې نه سي کیدلای او احساس يې زړه کولای سي.

موږ پر همدي بنیاد وایو چي حسن د حواسو په گرفت کي نه راځي خو بیا يې هم زړه حس کوې او ترې تاثر اخلي.خو په مطلق ډول سره د حواسو نه د حسن ادراک نفي کول یوه نا معقوله خبره ده دا منو چي حسن مجرده پدیده ده خو دغه مجرده پدیده یوه مادي وجود ته عاریضیږي او بیله دغه مادي موجوده دغه پدیده په وجود نه راځي.

مثلا که دا ومنو چي حسن مجرده پدیده نو یا به بیله کومه معروض وجود لري یا به د یو معروض سره موجودیږي دا نا ممکنه ده چي د ښکلا مجرده پدیده دي بذاته موجود

(c) ketabton.com: The Digital Library



سي ځکه موږ هيڅ داسي مجرده پديدخ نه سو ثابتولای چي بې غير د معروض دي موجود سي نو حتمي ده چي د يوه مادي معروض سره به يو ځای په وجود راځي او دغه معروض د حواسو نه پرته نه سو درک کولای نو کله چي معروض په حواسو درک سو نو عارض به هم په حواسو درک کيږي.

دغه حسن دئ چي زړه د ميني پلوشو ته ټيله کوي کله چي انسان د حسن د ليدلو نه حظ حاصل کړي نو بيا بيا د هغه حسن غوښتنه کوي،چي همدا مينه ده؛ هم دغه بيا بيا غوښتنه د زړه د ميني علامه ده. زموږ فلکلور هم د همدې خبري قايل دئ او په وار وار د ميني نسبت زړه ته کوي څو ټپې د مثال په ډول دلته راوړو:

مينه د زور خبره نه ده

چي زړه دي نه وې بيا دي نه مجبورومه

پاولی دي يخ سينه دي تخت دئ

چي ور نژدې سم زړه مي يخ لاندي کوينه

چي سړی هر څومره پښتون سي

زړه چي مين سي پښتو ټوله ورنه ځينه

کاکړۍ غاړو کي هم موږ وينو چي د زړه تکليف د محبوب د ښکلو کتو څخه ورته رسيږي او زړه د ميني او د حسن د ادراک وسيله بولي:

رنځ لرم؛رنځ مې د زړه دئ

رنځ راپيښ ستا په کاته دئ

په پای کې ويلی شو چې انسان جمالياتي ادراک په زړه سره کوي او دا زړه د حسن په ليدو خوښي احساسوي؛ خوند ورڅخه اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمالیاتي حس انسان شموله پدیده هر انسان یې لري او دغه حس دئ چي اوسنۍ نړۍ ته یې ښه بدله کړې ده دغه حس انسان د ښه موټر او ښکلي کور ښایسته ښار او نورو ښکلاګانو اختراع ته اړ کړی دئ که انسانانو دا حس نه لرلای نو د غارونو نه به هیڅ کله نه وای راوتلي او هیڅ کله به یې متمدن ژوند نه وای را منځ ته کړی خو دغه حس انسان کرار نه پرېښوده هغه کي یې د ښکلا د ضرورت پر اساس په نوې نړۍ کي د نوي خیالونو لیدلو ته اړ کئ. او انساني ژوند یې دومره لوړي کچي ته ورسوئ.

جمالیاتي حس په ټولو انسانانو کي یو شان دئ اما ذوقونه بیا بیل دي هر انسان ښکلی شی خوښوي بدرنګه ردوي یا یې په اړه بې تپاوته پاته کېږي چي دا هم یو ډول نه یو ډول رد دئ چي پر مقابل شي کیږي ځکه که موږ د یو شي په اړه بې تپاوته پاته کیږو نو ښکاره ده چي دي شي زموږ توجه نه ده جلب کړې.

که انساني تاریخ ته ځیر شو نو د انسان له پیدایښت سره سم ددغه حس اغیز لیدل کیږي قابیل هابیل ولي وژني؟همدغه حس دئ چي د هغه خور چي له قابیل سره یو ځای پیدا سوې، نه غواړي چي ورنه بیله سي او د هابیل قتل ته مجبوریږي همدارنګه که د انساني ژوند تاریخ ته وګورو نو انسانانو آن!چي په لومړني حالت کي ژوند کوئ؛غارونو کي اوسیدل دوی د جمالیاتو د حس څخه په قوت سره اغیزمن وو. داسي نقاشۍ د غرونو په هغو ځمځو کي کړي وې، چي د انساني ښکلا حس پوره پوره بیانوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جمالياتي تجربه

دنيا د تجربو مور ده هره ورځ هر انسان ته نوي تجربې زيږوي کله خوږې کله ترخې کله د مينې کله د کرکې کله د دوستۍ کله د دښمنۍ کله د وصال کله د فراق خو موږ هله دغه تجربې ښه حس کولای سو چې په خپله يې تجربه کړو او موږ ورباندې خپل ذاتي پريکړه وکولای سو ځکه پردۍ تجربې موږ ته هغسې نه ښکاري لکه زموږ تجربې.

موږ د بل درد ليدلای سو خو څرنگه يې چې هغه حس کوې هغسې احساس بيا موږ ورته نه لرو. که موږ ته څوک ووايي چې د صلصال مجسمه داسې د جلال او عظمت نه ډکه وه زموږ په خيال دهغه يو تت تصوير جوړ سي نه ريښتينې تجربه.

يو ليکوال وايي: ( که يو څوک غواړي چې مينه وپيژني بايد مينه وکړي.)

دا چې هر انسان د جمالياتي تجربې د کولو وړتيا لري او هر انسان دا تجربه کړې ده؛په دې تجربه کې انسان د گټې او تاوان تابع نه جوړيږي فقط انسان خپل حظ حاصلوي او تجربه ورته حاصليږي.

اقبال نسيم خټک د ښې جمالياتي تجربې د لاس ته راوړلو دپاره بعضې شرطونه او اصول وړاندې کړي چې دلته به په هر يوه جلا جلا بحث تر سره کړو.

لمړی د ښې جمالياتي تجربې لپاره ښه فکر او علم مهم بولي دی وايي ددې لپاره چې موږ پوره او ښه تجربه وکړو نو معروض ته به په علمي نظر گورو او د هغه په هکله به فکر کوو.

که موږ يو ښايسته شی ووينو او د هغه په هکله بې فکره پاته سو؛ ښکاره خبره ده چې موږ به ښه جمالياتي تجربه نه وې کړي او کله چې بيا په هنر کې د هغه تجربې بيان کوو؛بې خونده، بې رنگه به وي او خوند به يې اوبو وړی وي.

دويم د جمالياتي تجروبې لپاره مهم سماجي شعور دئ؛ سماجي شعور په دې مانا چې ستا شعور به د نوي څيز قبلوونکئ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که موږ چیرته سماج فکر ونه لرو نو د امیر کروړ د وخت حسن به موږ حسن بولو او هیڅ تنوع به ونه منو او حال دا چي د جمال یوه ځانګړنه تنوع دئ.

دریم تخیل هم د جمالیاتي تجربې لپاره ارزښت دئ.موږ په جمالیاتي تجربه کي اړ یو چي د جمال په هکله په خپل ذهن کي مخکیني نورمونه او اصول را سربیره کړو.

څلورم د تحیر یا حیرانتیا جذبه د جمالیاتي تجربې مهم اصل دئ. د دې لپاره چي ښه جمالیاتي تجربه مو تر سره کړې وي باید په ځان کي د حیرت جذبه ولرو!

شپږم د فنکار ذات دئ د هغه ضرورتونه هیلي او ارمانونه دي د هغه ماحول چاپیریال دئ او خپله پنکار دئ.

نو کله چي دغه شپږ څیزونه په یو انسان کي جمعه سي نو هغه تر ټولو د جمالیاتو ښه تجربه کولای سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جمال ذوق

دوې کاکړۍ لولو او بیا به د ذوق جمال طرف ته ورسو:

ژړ چارگل ژړه څهره

ژړو پر ولنگ وموسیده

سپین یې گی دئ سپین یې زړه دئ

سپین د سپینو په تاله دئ

موږ که کاکړیو ته گورو یو ځای یو کس وایي سپین د سپینو په تاله دئ او بل ځای بیا ژړه څهره د حسن معیار دئ. همدغه د ذوق اختلاف دئ او موږ ویلای سو چې ذوق انفرادي خاصیت لرې او د تغیر او بدلون په حالت کې دئ خو جمالیاتي حس بیا یوه بېله انسان شموله موضوع ده: حس هغه لوړه ده چې موږ د حسن خواته راکاږي او ذوق بیا حسن ته اصول او معیارونه ټاکي.

هغه څوک چې لوړ ذوق لري؛ عالي حسن خوښوي او هغه څوک چې ټیټ ذوق لري هغه بیا ټیټ حسن خوښوي.

ذوق اکتسابي شی دئ، چې انسان یې د ټولنې څخه کسب کوي یا هم په میراثي ډول د یو نسل نه بل نسل ته پاتې کېږي. ذوق روزل کېږي او پالل کېږي که څوک په هر ډول ټولنه کې ژوند کوې د هغې ټولنې په تاثر ذوق جوړېږي.لکه څرنگه چې موږ د خوړو ذایقه له یو بل څه توپیر کوي همداسې زموږ د ښکلا ذایقه هم بیل بیل وي ځکه موږ مخکې هم وویله چې ذوق انفرادي دی.

د ذوق په هکله والتیر وایي: (( د خلکو او قامونو ذوقونه سره مختلف وي ځکه چې ذوق انفرادي خاصیت دئ او د ذوق لپاره یو عام معیار ټاکل ناممکن کار دئ.))

په پورته د والتیر په وینا کې وینو چې د خلگو او قامونو ذوقونه سره مختلفه دي نو داسې یوه انگیرنه کوای سو چې ذوق که له یوه اړخه انفرادي دئ خو تر څنگ تر یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حده ټولنیز دی موږ وایو ذوق په ټولنه کي روزل کیږي او په ټولنه کي یې وده صورت نیسي که د افغانستان د ټولو وګړو ذوقونه یو د بله بیل دي خو تر څنګ یې یو نه یو ډول نیژدیکت هم سته.

موږ وینو د افغانستان زیات وګړې غټي سترګي تور ویښته کټ باڼو سپین، یا غنمرګه څهره نرۍ ورځي باریکه جګه پزه نري شنډان خوښوي که موږ چین وګړو ته نظر واچوو نو بیا به مو خبري سر چپه وې نو ځکه باید ووایو چي که د یوې خوا ذوق انفرادي دئ خو یو ډول نه یو ډول د ټولني سره مستقیما اړیکه لري.

خو په دغه ټولنیز عمل کي فردي مداخله زیاته ده ځکه چي د انسان د اندرون سره اړیکه لري او هر انسان یې د خپل فکر مطابق جوړوې او عملي کوي یې. دا چي هر انسان یې د خپل فکر په رڼا کي ګوري او د خپل فکر مطابق زیاتونه او کمونه پکښي کوي نو ځکه ورته یو ټاکلی معیار نسته او نه ټاکل کیدلای سي.

ځکه چي ذوقونه بیل بیل دي آن د یو کس د ذوق دپاره موږ ټاکلی معیار نه سو درلودلی ځکه چي ذوق روزل کیږي بدلیږي رابدلیږي لوړیږي ټیټیږي نو ځکه آن یو څوک د خپل ذوق دپاره کوم معلوم او یو واحد او منلی معیار نه سي ټاکلی.

جمالیاتي ذوق یو ذهني عمل دئ او د احساساتو سره هېڅ تعلق نه لري. ذوق د احساس د را پارولو لپاره صرف یو معیار ټاکي او ذهن کي هغه معیار اماده پروت وي کله چي په خارجي نړۍ کي د هغه موافق یو شی وویني نو احساسات په هیجان راولي.

زموږ ذوق د قاضي حیثیت لري چي د ښکلا او قبحي دپاره پرنسیپونه د انسان خاریجي حواسو ته په لاس ورکوې او بیا د ذوق تر پریکړې ورسته احساسات خپل سر راپورته کوې او ځان ښکاره که موږ چیري د ذوق نه بې برخي و اوسو نو هیڅ کله به زموږ احساسات را ونه پاریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جمالياتي حظ

هغه خوند چي د ښکلا او حسن د ليدلو څخه انسان ته حاصلېږي.اقبال نسيم خټک يې هم دې ته ورته تعريفوي.

خټک وايي د جمالياتو په ژبه به جمالي حذ داسي تعريف کړو: ((د جمالياتي تجربي پر مهال چي کوم خوند بې غير د څه خواهش نه انسان ته حاصلېږي جمالياتي حظ دئ.))

پورته تعريف ته که وضاحت ورکو نو د انسان د خواهش نه بې غير توري په تعريف کي نيمګړتيا راولي ځکه موږ ګورو چي دحسن ليدل او کتل د انسان اشد ضرورت دئ او بې غير د دې ضرورت د انسان ژوند نيمګړی دئ موږ ولي د ښکلي شي نه خوند اخلو ځکه دا زموږ د استيتيکي حواسو غوښتنه ده او کله چي دغه غوښتنه پوره سې نو موږ ته خوند حاصلېږي.نو هيڅکله نه سو ويلای چي جمالياتي حظ به بې غير د کومه ضرورته وې اما که داسي ويل سوې وای چي بې غير د مادي ضرورته نو تر يوه بريده به خبره صحيح وای.

جمالياتي حظ د حسن او ښکلا په ليدلو کسب کيږي او دا د انسان خاصيت دئ؛چي د ښکلا د ليدلو څخه خوند اخلي. نور حيوانات ددې خوند نه محروم دې او دا د الله ج پر انسان يوه لويه پيرزوينه ده چي انسان ته يې ورکړې ده.

ښاغلی احمد سعيد رفيق ليکي: (( جمالياتي حظ نه د فطرت عطيه ده او نه څه خلقي يا وجداني صلاحيت دئ  بلکې دا يو اکتسابي ذهني عمل دئ؛ چي د انساني تمدن او تهذيب د پيدا کيدو لامل دئ او د انسان څخه سوا نور حيوانات ددغه جمالياتي حظ نه محروم دي)).

جمالياتي حظ د انسانانو مشترکه دنيا ده ددې د حاصلولو بيل اصول دي. په دې کي اعلی، ادنی، شتمن غريب، ماضي، حال، لمر خاته، قبله، رنګ او نسل هېڅ قيد او شرط نسته هر فرد هر قوم جمالياتي حظ حاصلولی سي په دې شرط چي غوښتنه يې ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جمالياتي حظ څخه خوشحالي انسان ته ورکول کيږي ددې تفصيل په الفاظو کي سخت دئ. د دغه حظ خوشالي د عامي خوشحالۍ نه زياته اوچته ده.

جمالياتي حظ د انسان لپاره د خوښۍ راوستونکئ دئ دا خوښي عادي خوښي نه ده.هر شي که انسان ته دغه حظ حاصل کئ ښکلی دئ هغه که هر شی وې.

د حظ په هکله ايډيسن وايي: (( هر هغه شی چي نوی وي عموميت ونه لري په تخيل کي يو قسم خوشحالي راولاړه کي. ځکه چي روح د نامانوس تعجب نه ډک کړې. دده د تجسس تسکين کوي او داسي خيال ورکوي چي دده په ولکه کي دده نااګاهونو څخه وو.))

که موږ راسو موږ ته له جمال نه پرته نور شيان هم خوښي او خوشحالي بخښي ايا دا خوښي جمالياتي حظ دئ؟ لکه دوستي، دولت، شهرت، طاقت، اثرروسوخ او د خپل پلار ورور مور خور سره له مودو وروسته ليدل دا ټول موږ ته خوشحالي راکوي خو دا يقينا جمالياتي حظ نه دئ!

موږ په جمالياتي حظ کي هغه خوښي چپ د معروض د حسنه پيدا وې حسن بللی سو او دغه د حسن خون او خوښي له دې خوښۍ نه پورته وې.

ارسطو د جمالياتي حظ د تعريف څه انکار کوي او هغه د تعريف په پنجره کي نه قيدوي.

ارسطو وايي: ((د حسن نه چي کوم حظ انسان ته رسيږي هغه د قبضې او تصرف د غوښتنې نه وتلی دئ.) )

برکلي وايي: (( هر سړی پوهيږي چي حسن لذت بخښي.))

مجنون ګور کهپوري وايي: (( حسن صداقت دئ او صداقت حسن دئ موږ ته دومره اړتيا ده، چي هم دومره ځانونه پوه کړو)).

اوس خبره داده چي کوم شيان جمالياتي حظ بخښي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه شیان چې په ښه ډول متناسب وي او یو د بل سره هم رنگه وې دغه هم رنگي ذهن کې شور جوړوي او انسان ته خوشحالي بخښي.

د شیانو توافق زموږ د خیالي ایډیال سره.

تر ټولو ستر حظ چې انسان ته حاصلیږي د مافوق الطبعي جمال په پلوشو سره انسان ته پیدا کیږي.

رسکن وایي: (( دا د انسان فرض دي چې د الله ج حمد بیان کړي د هغه د اطاعت په وسیله روح خوشحاله کړي )).

یوه ټپه ده چې هغه هم د ما فوق الطبعي جمال نه د حظ ښېگنه بیانوي:

مینه د خدای او رسول ښه ده

دا نوري میني بې وفا پاتې به سینه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جلال او جمال

د جلال کلیمه د لمړي ځل لپاره د عظمت او غرور په مانا لون جاینس وکاروله.

دی په خپله مقاله کي لیکي: ((جلال د روح د عظمت سوری دئ.))

د جاینس په وینا جلال د روح د عظمت او لویې سوری دئ او د کوم شي نه چي پر انساني روح باندي د عظمت تاثیر وسي دغه جلال دئ .

د جلال لپاره ایډمنډ برگ هم داسي حال،چي انساني روح په داسي حالت کي واچوي چي د بل څه په هکله فکر نه سي کولای.

ایډمنډ برگ د جلال د پاره داسي تشریح ورکوي: کومه جذبه چي په فطرت کي د عظیم او جلیل له کبله پیدا کیږي دغه عوامل ډیر په شدت سره عمل کوي.

نو ددې نتیجه انتهایي تعجب انگیزه کیفیت ویاړ یا د روح داسي کیفیت وې چي د هغه ټولي وظیفې معطلې سي او ددې سره یو څه بیره هم ورگډه وي په دې وخت کي ذهن د خپل معروض څخه داسي ډک سي چي بل شي ته ځای نه سي ورکولای.دی بیره حیرت د جسم لوی والی جلال بولي.

ایل اي ایډ وایي: بیا خو موږ جلال د هغه معروض( که مصنوعي وې که فطري) خصوصیت ته ویلی سو چي د خپل لوی والي یا قوت طاقت جسامت وسعت یا لامتناهیت (د کوچنیوالي یا د لوی والي) د روغبت او پر اساسیت یا محکموالي په وجه زموږ جذبات په تاثیر کي راولي.

دی قوت جسامت ډیر کوچنیوالی یا ډیر غټوالی جلال بولي موږ چي کله دنگو غرونو ته گورو دلته موږ ته جلال ښکاري کله چي د سمندر لایمتناهي څپې وینو موږ د جلال نه خوند اخلو. زموږ په یوه فلکوریکه ټپه کي وایي:

په لویو غرو د خدای نظر وي

په سر یې واوري وورويِ پای یې گلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو به هغه وخت د غرونو له جلال نه څومره خوند اخيستئ وي کله چې د غرونو هسکي څوکي د سپينو او لايتناهي واوري نه جوړ وې.

د جسم وسعت او لايتناهي والی د حسن جلال ښکارندوی وي. موږ چې کله د ژمي سهار له خوبه جګ سو او د انګړ شاوخوا سيمې آن! تر هغو چې زموږ د سترګو نظر لګيږي د واورې سپين اندامونه په مځکه خواره وي چې د جلال ستره ننداره زموږ ذهن ډکوي او د حيرت اخري حد ته رسيږو.

خو کله چې موږ سترې مجسمې ګورو نو زموږ ذهن کي د هغوی د اندامنو تراشل ارزښت نه دئ دلته زموږ ذهن ته يو لايتناهي قدرت د دوی د ستر وجود نه تداعي کيږي کوم چې کولای سي په خپلو مزبوتو متو ددې نړی د ښيرازی لپاره کار وکي او کړی يې دئ.

لارډ کيمزهم په دې اند دئ ،چي ((په جلال کي د قوت نه زيات هيڅ صفت او صورت حال نه سو اضافه کولای.))

د لارډ جيمز وينا ته که راسو نو موږ ګورو چي انسان د ډيرو شيانو په هکله د قوت فکر کوي که موږ لوی غرونه ګورو هلته موږ ته يو محکم او د قوت لرونکئ موجود ذهن ته راځي موږ په ډيرو ځايونو کي غر د قوت سمبول بولو خوشحال بابا وايي:

د جهان ډيري خبري لور په لور توري لښکري
زړه مي نه خوځې د ځايه غر خو هسي وې کنه

دا خبره چي جلال يواځې د قوت پر ريښه ولاړ دئ تر يو حده وچه خبره ده او موږ د جمالياتو په علم کي وچي خبري نه سو منلی موږ که سند هواره ارته لمن ګورو يو زبردست جلال وينو او يو ستر قوت ننداره کوو خو کله چي د ستورو ډک اسمان وينو موږ دلته هيڅ قوت د هغه په غيږه کي نه ننداره کوو خو بيا مو هم ذهن د جلال له پلوشو نه ډک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په اند په جلال کي تر جمال جذابيت زيات دئ روح، له بيخي بل ډول حالت سره مخ کوي روح ته حيرت ورکوي ويره ورکوي او يو داسي حالت سره مخ کيږي چي ذهن ته د جلال او د معروض د تصور نه ماسوا بل شی نه ماليږي.

دا يواځي قوت نه دئ؛چي دغه حالت روح ته بخښي بلکي لوی والی زيات کوچنيوالی زيږوالی او ... .

برک هم هغه خط چي خپل ملگري ريچرډ شيکلټن ته يي ليکلی وو ليکي: ماته دا ډير خوند راکوي چي زه د فطرت ښکلا په لويو او خوف ناکو نظارو کي ووينم ځکه چي دا زړه د شانداره خيالاتو نه ډکوي او روح د ځان طرف ته را کاږي.

برک د جلال لپاره حيرت، ويره او لوی والی هغه حالتونه بولي چي د جلال له ننداري وروسته انسان او روح يي ور سره مخ کيږي. موږ ولي د جنگ او جگړو د ځايونو د ليدلو څخه خوند اخلو باوجود ددي چي هلته نړيدلي کورونه غاښي غاښي ديوالونه سوي مځکي ماتي وني وينو؟

کيدای سي چي تاسو به جواب پيدا کړی وي ځکه همدا جلال دئ! موږ گورو چي جان بيلي هم د خوفناکو څيزونو تر شا د جلال لاس بولي او د خوند اخستلو وسيله يي بولي.

جان بيلي ليکي:((د فطرت داسي کومي منظري دي چي زړه ته زبات رفعت او لوړوالی ورکوي يا جلالي جذبات پيدا کوي؟ دا د مځکي خوش منظره قطعات نه دي دا د گلونو څخه ډک پټي نه دي دا اباد ښارونه نه دي بلکي دا زاړه غرونه دي او په تنهايی کي د اوبو ډک جهيلونه دي دا اوږد عمره ځنگلونه دي او هغه ابشارونه دي چي پر لويو لويو ډبرو راتوييږي)).

که وگورو خبره د حيرت ويري لويوالي نه هيڅ طرف ته نه ځي. موږ چي کله زاړه غرونه وينو د عظمت تر څنگ يي يو ډول ويره د ستروالي نه احساسوو که ابشارونه گورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حيرت ويره او عظمت درې سره مو ذهن ډکوي او کله چي ځنګل ته ځو نو د پراخۍ او ويري دواړو اثر پر ذهن لويږي.

کانت هم درې ډوله جلال راپژني: ((خوفناک، رفيع اوعظيم الشان)).

خوفناک: لکه د توري شپې د ډېر تورواليي نه مو چي ذهن خوند او جلال ورته ورسيږي. رفيع: لکه غرونه او عظيم الشان: لکه سندونه، دلته زما په اند د رفعت نه لوړ والۍ او د عظمت نه پراخي مراد ده.

خو خبره دلته ده چي په جلال کي د عظمت ننداره پر لويو ډېرو تووييدونکي ابشارونه دې لوی غرونه دې اسمان دئ فراخ جهيلونه حيرت او ويره ده او... خو جمال ته که راسو جمال لطافت دئ جمال د جينکو سره مخونه دې جمال د ګلاب نرګسي پاڼي دې جمال د شبنم نرم څاڅکي دې توري سترګي دي مات باڼه دي شنه چمنونه دي او په عموم کي که ووايو چي جلال د عظمت ننداره ده او جمال د لطافت ننداره ده ددې دپاره نصير احمد ناصر هم همداسي نظر لرې.

نصير احمد ناصر ليکي: (( د حسن دوه مظاهر دي اول جمال چي د رحمت او لطافت معصومۍ او نزاکت نه زيږې دويم جلال چي د قوت جبروت او قهارۍ نه زيږې. ))

ښاغلی ناصر هم د جلال دپاره صفت قوت حيرت ويره بولي خو د جمال صفت بيا معصومي نزاکت نرمي او لطف بولي. سعيد احمد رفيق هم د جلال او جمال تاريخي سير څېړلی او وايي مخکي وختونو کي حسن دوې برخي درلودلې يوه يې لطافت وو بله يې عظمت وو دوی دلربايي د ښځو صفت بللی او عظمت يې د نارينوو دپاره کارولی.

سعيد احمد رفيق وايي: (( د لون جانس د جلال د کليمې د استعمال نه مخکي حسن پر دوه ډلو ويشل کيدئ لمړی دلربايي چي په ښځو کي وه دويم عظمت چي په نارينه و کي ګڼل کيده.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چي ښځي طبعا د ناز نزاکت او نرمۍ لرونکې دې همدا لامل وو چي مخکي وختونو کي د ښځینه حسن ته دلربايي یا جمال ویل کیدئ او نارینه چي طبعا د غرور نه ډک زیړه او لوی جسامت نسبت ښځي ته لرې ، نو جلال او عظمت د نارینوو دپاره مخته وړل کیدئ.

خو کله کله بعضي نر انسانان چي لطیف او نازک جسم لرې دوی ته هم د جمال نسبت کیږې دوی د ښځو سره تر ډیره حده ورته والی لرې .

که موږ د حمید او کاظم خان شیدا نوخط گورو هغوی د جمال لرونکي دې او هیڅ کله یې د جلال ستاینه نه ده سوې موږ مخکي یادونه وکړه چي جمالیاتو کي پریکنده پریکړه نسته راسئ چي د خوشحال نه واورو چي نوخطو ته د جمال نسبت کوې او وایي:

په سپین مخ یې تازه خط نوی ټوکیږې

زه به ځان ورځني ژغورم روږد دئ زاغ

یا

ما دا هسي رنگ هندو لیدلی نه وو

چه په حسن دین او زړه د مسلمان وړي

یا دا بیت

هغه تور هندو بچه به چیرته غواړم

چي زما د زړه متاع باندي گرو وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هر څنګه چي يې هرډر وايي چي د نارينه ښکلا د هغه د اندامونو په شدت کي ده څومره چي د نارينه اندامونه محکم او کلک وې نو جلال ورپکښي زيږي او حسن يې زياتيږي.

خوشحال هم د نارينه حسن جلال او غرور بولي او د ښځينه ښايست نزاکت او نرم والی دئ زلمو ته د باز سمبول او جينکو ته د کوترې سمبول کاروې چي باز طبعا مغروره او ويره اچونکی دئ خو کوتره بيا نيازبينه او مهربانه ده.

خوشحال بابا وايي:

عشقه ستا واړي چاري اوتري دي

چه زورور يې واړه بهتري دي

تر مرګه پوري سره نظر لري

زلمي بازونه جوني کوتري دي

آئي جي هر ډر وايي: ((د نارينه حسن د خپلو عضوياتو جذباتو په شدت سره او په نورو جسماني حرکاتو او خصوصياتو کي دئ.))

خوشحال بابا هم د نارينه دپاره جلال او د ښځينه وو دپاره نزاکت حيا حسن کڼي.

خوشحال بابا وايي:

ميړه چي توره وکا وفا لري

ښځه چي حسن شرم حيا لري

نوري پښتني ورځني مه کړه

هرڅه به ښه لري هغه چي دا لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغه خبره ونکل مان هم کوې : ((ونکل مان وايي:ښځې په جمال او نارينه په جلال ښکلي کيږي.))

دلته يوه خبره ضرور ده چې جلال او جمال خپل ترمنځ ډير باريک تار لري چې بيلول يې ستونزمن دي خو بيا هم وايو چې جلال لرونکي څيزونو کې حتمي نه ده چې جمال دې هم وي.

رسکن وايي: ((دا خبره بايد ضرور و منل سي چې ډير شيان د اعلا درجې جلال لري خو د اعلا درجې جمال نه لري )).

ددوی تر منځ يوه نه شلېدونکې رابطه ده چې هغه ذهني خوشحالي ده چې د جلال او جمال دواړو څه ذهن ته حاصليږې نو ځکه يو د بله څه په ډير دقت هم نه سو بيلولای خو صرف يوه هڅه ده چې کوو يې.

يو بل عالم وايي: (( په صحيحو مانا جلال د جمال پر درشل پروت دئ.))

نو چې جلال د جمال پر درشل پروت دئ نو د يو بل نه يې بېلول بيخي سخته ده خو صرف دومره ويلای سو چې د جمال او د جلال د جذبو ترمنځ لږ توپير سته .

د جلال سره ذهن دومره حيرت اخلي چې جمال يې نه سي ورکولای د جلال سره انساني فکر ټول ډکيږي د څو شېبو دپاره راسئ چې د جمالياتو د يوه عالم بليتيربيا وينا ووايو.

بليتربيا (( هغه جذبه چې د جمال څخه پيدا سوې وي له هغې جذبې تته بولي چې د جلال نه زېږېدلې وي.))

خو ونکل بيا هم د دوی توپير په جسامت سره کوې دی وايي : ((جلال لرونکي څيزونه لوی او جمال لرونکي واړه وي جمال هوار او مهين مرتب دئ خو جلال بيا زيږ او بې ترتيبه دئ.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونکل مان وایي: ((جلالي څیزونه په جسامت کي لوی وي جمال لرونکي ورکوټي وي حسن هوار او مهین پکار دئ او جلال بیا زیږ او بې ترتیبه وي.))

شیلنګ بیا جلال داسي یو تصور بولي چي که یې په یوه واړه شي کي وګورې خو بیا به هم د تصور ټولې دروازې تړي خو جمال که په لایتناهي کي هم وګورې بیا هم ذهن سل په سلو نه ډکوي او بس.

شیلنګ وایي: (( جلال په متناهي کي لامتناهي دئ او جمال په لامتناهي کي متناهي دئ.))

راسئ د جلال په هکله د لیوني پیلسوف غني خان اند وګورو ده جلال ته یو نظم لیکلی.

غني خان وایي:

جلال

زه غواړم د هیرو نه مستي سره ګلونه جوړ کړم

د سرو اوښکو نه سري شونډې د ژړا سرونه جوړ کړم

د خزان تیاره کړم ډوبه د امید په سمندر کي

د کنجکو نه لالونه د غلو پلونه جوړ کړم

چي دا روح مي په ښکار ووځي د رنګونو د خوبونو

که نور نه وي د تیرو زه رنګیني نورونه جوړ کړم

چه د خشت سم زه لیواله د صحرا هره زره کښي

په زرهاوو بستانونه په لکها ګلونه جوړ کړم

چه زه وړی د ارمان سم د سپرلي په سپین سبا کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې حسابه ماښامونه بې پایان غمونه جوړ کړم

تور او سپین زما د سترګو کله تول کله تلل دي

شپه او ورځ زما نظر دئ ورکول او مونتل دي

که خندا ده که ژړا ده دا ځیګر مشغولول دي

که وصال دئ که فراق دئ خپل سرور ته ګډېدل دي

چې زه مست سم د ډېران سره خیشته ګلونه جوړ کړم

د سرو اوښکو نه سرې شونډې د ژړا سرونه جوړ کړم

دا چې زه ځان ته یو تخت د رنګین باده ودان کم

د غلام خواري بدله د پادشاه په رنګ سرور کړم

دا چې ته یې اې جانانه دا چې ستا مستي رڼا ده

دا زما مینه ارمان دئ دا زما ژړا خندا ده

دملا خبري خوشي مامله زما او ستا ده

دا داستان د لوږي نه دئ دا قصه د عشق او سا ده

دی زما سرور کي پټ راز ستا د حسن او کمال دئ

دا زما کمزوري سترګي ستا د خیشت جاه و جلال دئ

غني خان په دې نظم کي د سرو سترګو ژړا یادونه کوي دی که څه هم دی دا هر څه د خیال او فکر زیږنده بولي خو ورسته وایي چې خالقه دا زما سترګي ستا د جاه او جلال ښکارندویي کوي او ستا جاه جلال دئ.

دلته جلالیت د خدای ج صفت ګرځوي او دغه صفت د الله ج دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هر رنگ چي وي حسن دوې برخي لري جلال او جمال چي  د جلال امرخېل د ببت پر مطابق چي دنيا په دوه شيانو ودانه ده چي جلال او جمال دئ.

په قرآن کريم کي هم څو ځايه جلال وينو او هلته هم د جلال يادونه سوې د سورة رحمن په اخير کي د الله ج صفت په جلال سره سوی او صحيح بخاري د جلال تفسير داسي کوې يي (الجلال) ذو العظمة يعني خاوند د لويې او غرور.

د ښکلاپوهني اصطلاح کي هم هغه ښکلا چي د يو ډول لويې او غرور څه پيدا سوې وي جلال دئ ښکلا پوهان وايي جمال په لطيفو اجسامو کي شتون لري او جلال په زيږو او هولناکه شيانو کي شتون لري.

خو بعضي استاذانو د جلال د پاره ښايست او د جمال دپاره د ښکلا نوم اخيستئ زما په اند کومه منطقي خبره نه ده موږ چي کله د غرو ننداره کوو نو وايو چي څونه ښکلی غر دئ يا هم وايو څه ښايسته غر دئ او که يوه جينۍ هم گورو بيا هم دواړه صفتونه کاروو.

نو که موږ دجمال د پاره يواځي ښکلا مترادفه کلمه وگرځوو او د جلال دپاره ښايست نو بايد ونه وايو چي ښايسته جينۍ ده يا هم ښکلی غر دئ.

د جمال کليمه د ښځي دپاره په احاديثو کي هم وينو حديث شريف دئ عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: (( ورجل طلبته امرأة ذات منصب وجمال)).صحيح بخاري

ژباړه :او بل هغه څوک د خدای ج په رحمة کي وې چي يوه ښځه چي د جمال او منصب لرونکې د ده څه د گنا غوښتنه وکي او دی يې د خدای ج د ويري پرېږدي.

يوه ورځ مي د استاذ سره د جمال په هکله موضوع ياده کړه چي د جلال او جمال بحث راغلئ استاذ يو مثال راکئ چي که يوه جينۍ خپل حسن په نقاب کي څرگند کړي نو دا جلال دئ او که همداسې بې نقابه ځان ښکاره کړې بيا جمال دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په اند کله چي يو څوک خپل حسن په پرده کي کړې يو ډول غرور په خپل حسن کوي چي دغه غرور خپله ځانته حسن دئ چي جلال ورته ويلی سو.

او کله چي بې پردې ځان ښيي نو هغه جلال ختم سو او صرف جمال پاته سو. همدا لامل دئ چي حمزه بابا وايي هغه حسن حسن مه ګڼه چي عام سي.

او موږ ځکه تل په نقاب کي سترګي د بربنډو سترګو نه زياتي خوښوو چي جلال او جمال دواړه ملګرتيا سره کوي.

جمال د ګلونو او ښکلو منظرو لطافت دئ جمال د ښايستو معشوقو نرمي زلفي دي جمال د ګل پر پاسته بدن د شبنم څاڅکي دي جمال لطافت دئ ځکه خيام نيشافوري وايي:

بنگر ز صبا دامن گل چاک شده

بلبل زجمال گل طربناک شده

در سايه گل نشين که بسيار اين گل

در خاک فرو ريزد و ما خاک شده

موږ چي الحمد لله مسلمانان يو او يواځي پر مادي نړۍ باندي نه يو ولاړ نو د يوې خبري سپيناوی موهم دئ.

کله چي د جلال نسبت الله ج ته وسي نو دهغه نه د الله د قهر او غلبي او لويی صفات مراد دي او کله چي د جمال نسبت وده ته وسې نو بيا ورنه لطيف او د مهربانی صفات مراد کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قبحه یا بدرنگي

ریاض الحسن لیکي: (( د انساني صفات د ترقۍ دپاره لکه څرنگه چي د نیکۍ ضرورت وي هم دغه شان د بدۍ وجود مهم دئ د ازغي حیثیت خالي د ازغي نه دئ بلکه د گل ښکلا یې هم څو چنده کړې ده.))

دی وایي کله چي یو شی ارزښت پیدا کوي نو په خپل متضاد سره ارزښت پیدا کوي که حسن دئ د بدرنگۍ برکت دئ چي حسن ارزښت پیدا کړی نو څرنگه چي په جمالیاتو کي د حسن بحث مهم دئ همداسي یې متضاد چي قبحه یا بدرنگي ده د اهمیت وړ دئ.

نو د بدرنگۍ ارزښت یواځي بدرنگي نه ده بلکي لوی ارزښت یې دادئ چي د حسن ارزښت یې زیات کړی که چیري بدرنگي شتون ونه لري نو د حسن دغه ارزښت به هیڅ کله حسن نه وای پیدا کړی او تر دې مهمه خبره لا دا ده چي شی په خپل ضد سره تر بل هر څه ښه پیژندل کیږي. موږ که د خندا ارزښت منو نو تر ژړا ورسته یې منو که خوشحالي ارزښت ده د غم له برکته که ژوند ارزښت دئ د مرگ خاطر دئ همداسي هر شي ته د هغه ضد ارزښت ورکړی دئ.

کروچې هم د بدرنگۍ په اړه ږغېدلی دئ.دی وایي: ((که چیرې د دنیا څه قبحه ورکه سي او که چرته په عالم کي ښېگڼه او خوشبختي رواج ولري نو شاید فنکار غیر اخلاقي یا قنوطي جذبات پیش نه کي البته ددې پر ځای به خاموش معصوم او د خوښۍ نه ډک الفاظ ولیکي.))

انسان تر ډیره حده په هنر کي خپل د تحت الشعور زخیره سوې خبري کوې چي په شعوري توگه یې د ویلو توان نه لرې نو د هنر په مرسته دغه خبري په صیقل شوې ښه ټولني ته وړاندي کوې نو ځکه کروچې وایي که قبحه نه وای نو هیڅ کله به پنکار یا هنرمند غیر اخلاقي خبري نه وای کړي ځکه چي قبحي به شتون نه درلودلای بلکي لیکوال او هنرمند به خاموشه او د خوښۍ ډک هنر پنځولی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو بل لیکوال د قبحي په اړه داسي وايي: (( قبحه په ښکاره ډول سره زموږ د جمالیاتي تجربې یو ښکاره جز دئ دا د عام سطحي څیز په شان دئ دی پر موږ اثر نه کوي او زموږ توجه نه جلبوي او په فطري توگه سره دا د حسن متضاد دئ)).

دلته که وگورو د قبحي په پېژندنه کي لیکوال بدرنگي داسي شی بولي چي یو عادي شی دئ زموږ توجه نه جلبوي او موږ د هغه طرف ته میل نه کوو خو دا زموږ د جمالیاتي تجربې نه یو شي ته میل او نه میل ثابتیږي.

خو که پورته تعریف نور هم سره وشنو نو تعریف به یو څه نیمگړی ښکاره سي ځکه دی قبح د نه اثر لامل بولي موږ زیاتي قبحي وینو چي پر موږ منفي اثر پریږدي موږ د هغه څه کرکه کوو آن هغه طرف ته بل ځل گورو نه او آن کله کله هغه ځای هم پریږدو نو موږ هیڅ کله د قبحي په لیدلو بې تفاوته نه سو پاتي کیدلای بلکي قبحه موږ متاثره کوې خو زموږ د غوښتني خلاف تاثر اخلو.

که حسن موږ ته خوند را بخښي او لذت راکوي نو قبحه بدخوندي او بد تاثر موږ ته راکوې او موږ زموږ د غوښتني خلاف متاثره کوې.

دا چي زموږ د جمالیاتي تجربې برخه ده خو په عام ډول د جمال ضد بلل کیږي ځکه موږ وایو چي داشی ښکلی دئ او دا بیا بدرنگه دئ بدرنگه شی زموږ جذبات نه پاروي ښکلی شی زموږ جذبات پاروي.

کروس بدرنگي د حسن متضاد بولي او وايي: ((کوم شی چي زموږ لوړو حسیاتو ته بې رنگه او بد خونده ښکاره سي هغه شی بدرنگه دئ.))

ورسته لیکي: په کوم شي کي چي لږ غوندي تضاد او د ژوند نفي وي لکه شخړه کمزوري یا کمی بس بدرنگ دئ.

موږ ویلای سو که په کوم شي کي جلال او جمال نه وي بدرنگه دئ یعني نه زموږ احساسات راوپاروي نه مو په ویره کي واچوي نه قوت ولري بدرنگ دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عموم کي ويلای سو چي قبحه د حسن متضاد ده.

ډيزوير بيا وايي: (( يو خو په عموم کي قبحه د شر او کراهت صحيح عکس دئ ورسره دا چي د حسن ارزښت څو چنده کوي.))

هغه يو شاعر وايي:

که دا بدرنګ نه وای بدرنګه

چا به نيوه د ښکولو څنګه

دا چي د ښکولو کم عزت دئ

دا د بدرنګو برکت دئ (يوه سندره)

ډيزوير که څه هم لمړی وايي چي بدرنګي په خپل ذات کي يو بد او بدرنګه شی ده خو د بل پلوه که وګورو همدا بدرنګي ده چي د ښايست ارزښت يې زيات کړی که غم نه وي خندا ارزښت نه لري که تکليف نه وي هوساينه ارزښت نه لري که بدرنګي نه وي نو ښکلا ارزښت نه لري.

ونکلټ قبحه د حسن ضد بولي خو دی وايي : ((کوم شي کي چي د حسن کمی وي ددې د وقوع سبب دا وي چي دغه معروض د جمالياتي معيار سره په ټکر وي يا يې فطرت د حسن د رمزو مخالف وي.) )

خو فان ولف بيا هغه شی چي ((حظ رسوي ښکلی بولي او کوم چه حظ نه رسوي او ذهن کي بد خونده کيفيت جوړوي قبحه ده.))

کروچي بيا هغه شی چي معروض اظهار کي راسي حسن دئ او که اظهار ناقص وو قبحه ده. موږ د کروچي خبري داسي تعبير کولای سو کوم معروض چي زموږ د خيالي ايډيال سره يو شی وخيجي حسن دئ او کوم شی چي بيا لږ هم زموږ د ايډيال سره توپير وکي قبحه ورڅه جوړېږي. چي دی وايي قبحه د نا مکمل اظهار نتيجه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روزن کرانز بیا د حسن دپاره معیار موجود او مني يې خو کله چي خبره د قبحي سي نو د کوم معیار وجود نه مني مطلب داچي کوم داسي معيار نسته چي موږ ووایو که په یو معروض کي داسي صفتونه پيدا سول نو بدرنګ دئ.

یو بل عالم بیا وايي: ((قبحه د حسن خلاف داسي بغاوت دئ لکه چي شر د خير خلاف دئ.))

اقبال نسیم ختک وايي : (قبحه د جمالیاتي حسن داسي د یو جز په حیث غیر دلکش دئ لکه په موسیقۍ کي نا آهنګي.)

مارشل د قبحي په اړه وايي: (( په دې هم پوهیږو چي هغه ډېر معروضات چي یو سړي ته حسین دي بل ته بدرنګ یا قبیح دي.))

خو خوشحال چي یو مستانه انسان وو دی بدرنګي د عمر په زیاتېدو سره بولي او یو لامل يې همدا بولي دی وايي:

ارتني په شال ګل دي

ګل تازه ښه دئ خوشحاله

تر شل کاله تازه ګل دئ

بده نه ده تر دیرش کاله

چي تر دیرش کاله زیاتیږي

پریواته يې دي د خیاله

که درست ځان زر و زیور کا

سود يې کم دئ د جماله

زوړ چي ښه جمال ته ګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې ځوان سي د وصاله

موږ که په حسن کي موضوعي او معروضي نظریې وایو نو دلته هم خبره هماغسي ده دلته حسن او قبحه د انساني فکر زېږنده او صفت بلل سوی او په خارج کي د حسن او قبحي شتون ردوي.

یوم د قبحي او حسن دپاره خورا ښه نظر وړاندي کوي دی وایي: ((حسن روح ته اطمینان،ارام او سکون ورکوي همداسي بیا قبحه د حسن خلاف روح ته ناکراري، درد تکلیف او غم پیدا کوي.))

پیري وایي : ((هر ایجاب سلب لري ،هر شی ضد لري نو د حسن ضد قبحه ده. د قبیح مطلب د جمالیاتي حظ نه پیدا کېدل دي.))

نو خلاصه که ووایو چي قبحه د حسن ضد دئ او د جمالیاتو د علم یوه برخه تشکیلوي او داسي یې په لنډ ډول تعریفوو چي کوم معروض چي د جلال او جمال حذ یې انسان کي نه کړ راویښ قبحه ده.

قبحه زموږ په ټولنه کي زیات وخت د توروالي نه زېږېدلې بولي او کله چي څوک تور وي نو بدرنګ به وي. زموږ ټولنه کي فلکلور هم د دې توروالي د قبحي په اړه ډیر څه لري.

ټپه:

ولي مي توره توره بولې

زه توره نه یم مور په ناز بللې یمه.

یا

په تورو بد مه وایاست خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تور خو لونګ دي پاچاهان يې بويوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ما فوق الطبعي حسن

د ما فوق الطبعي حسن نه هر ځای د الله ج حسن مراد دئ او مرادیږي اوس که د الله ج د حسن په اړه ږغیږو نو لمړی به د الله (ج) او د هغه د رسول( ص) ارشاداتو ته سر ور ښکاره کوو.

الله ج په سورة نور ایات ۳۵ کي فرمایي:

((الله نور السماوات والارض)). ژباړه: الله ج د مځکي او اسمانونو نور دئ. د همدې ایاته ورسته فرمایي: ((لیس کمثله شئٌ)) ژباړه: دا داسي نور دئ چي د هغه غوندي هېڅ شی هم نسته. موږ ددې حسن په اړه هیڅ مثال نه سو وړاندي کولای.

دویم حدیث شریف ارشاد دئ نبي کریم ص پرمایې ((الله جمیل یحب الجمال)) ژباړه: الله (ج) جمیل دئ او جمال خوښوي.

اوس که راسو چي دا حسن څرنگه موږ ته مسرت او حظ بخښي نو د ډاکټر سراج الحق وینا د یاده نه سو ایستلی چي وایي:( (د متصوفینو زړونه سترگي لري او د هغو سترگو په برکت سره دوی د باطن مشاهده کوي. د دوی زړونه بې له وزرونو پرواز کوي او د عرش تر کنارو ځان رسوي.)) (۱۴: ۱۳۵)

راسئ چي په دې هکله د صوفي شاعر او د پښتون ملت د لوی او تړول منلي انسان عبدالرحمن بابا رحمة الله علیه شعر را واخلو بابا وایي:

هر چي لاندي خپل وجود تر خپل قدم کړي

عرش یې لاندي تر قدم سي اسمان څه دئ

یا دا بیت:

چي په یو قدم تر عرشه پوري رسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ليدلی دئ رفتار د درويشانو

راسئ چي د غير مسلمو پوهانو نظرونه د مافوق الطبعي جمال په هکله ووايو.

مشهور يوناني عالم افلاطون وايي:( (هر کله چي موږ د ښکلي شي پرتله د بل تر هغه زيات ښايسته سره کوو نو موږ ته لمړی شی بدرنگه ښکاري يو شی د يو خاص کس دپاره ښايسته خو د بل چا دپاره به حسن نه وي نو ځکه ددې دنيا هر شی نسبي ناپايداره او غير يقيني دئ.))

وروسته وايي:صرف حسن تصوري يو قايم بالذات شی دئ چي نه پيل او نه هم پای، نه زوال لري نه کښته کيده. دا تغير نه منونکئ او مطلق دئ، چي په هره نقطه او هر تعلق حسن دئ. دا حسن د هرچا هرې زمانې او هر وخت لپاره حسن دئ دا د هر عيب نه پاک د خيال او فکر د سرحدونو نه وتلی دئ ؛چي نه مفهوم محض دئ نه انفرادي علم بلکې يو سرمدي حقيقت دئ.

افلاطونس بيا مافوق الطبعي جمال داسي بيانوي:موږ د شيانو د حقيقت بنياد د عقل په مرسته نه سو مالومولی بلکې د اخلاقي او عقلي وجدان په مرسته په خپل ذات کي مطلق لايتناهي زموږ په باطن کي د اگاهی يا خبر په خاطر پاتې وي ځکه زموږ او د ذات مطلق تر منځ چي خومره لري والی دئ او د متصوفانه کشش په زور دغه فاصله ختمولای سو. دی وايي الله ج خپله هم نور دئ او د حسن سرچينه هم دئ.

سيونارولا بيا وايي: ((څه وخت چي روح د الله ج د حسن نه وځليږي دغه وخت بدن ته يو الهي جمال ورکړل سي.))

شفټسبري بيا ليکي: ((د فطرت هر ښکلی شي ته د حسن ازل تت غوندي عکس ويلای سو.د کايناتو حسن حقيقي نه دئ بلکې مجازي حسن دئ او ددې مجازي حسن سرچينه ذات خداوندي دئ هغه حسن ازل دئ او دغه حسن ازل د انسان د لاس او

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکره وتلی دئ. هغه پټ هم دئ او ښکاره هم دئ هغه موږ ته زیات نیژدې ښکاري خو کله چي ورنژدې کیږو دومره نوره فاصله راسه اخلي.))

خوشحال هم دغه نظریه په لږ توپیر سره بیان کړې ده دی وایي:

په هر ځه کي ننداره د هغه مخ کړم

چي د ډېري پیدایۍ نه نا پدید سو

ونکل مان بیا وایي: ((کومو پوهانو چي د افاقي حسن په اسبابو غور کړی دئ او ددې لټون یې په مخلوقاتو کي کړی دئ؛ ددې دپاره چي حسن اعلی درک ومومي دوی حسن د مخلوقاتو د اجزاوو په ترتیب او موزونیت پسي تللي دي. خو زموږ ذهن د افاقي حسن په هکله یو تصور غیر معین پاته سوی دئ.))

دی وروسته لیکي څومره چي موږ د مادیاتو څه لري کیږو هغومره زموږ فکر لوړوالی پیدا کوي بیا خالق خپل مخلوق ته په هغه اندازه کمال ورکوي.

الیس ایگزانډر بیا وایي: ((الله ج هغه هستي ده چي ټول قدرتونه پکښې ناقابل تغیر دي.))

میراتور وایي: ((په خدای ج کي خیر او صداقت اخیري درجې ته رسیدلی دئ حتی خدای ج په خپله خیر او صداقت دئ او تر ټولو زیات حسین دئ.))

کزن وایي: (( اخلاقي حسن بهترین حسن دئ او ددې سرچینه د خاوند متعال ذات دئ.))

موږ خلص داسي ویلای سو کاینات تلونکي راتلونکي دي په وخت سره د هر ښکلي شي ښکلا آن وجود یې د منځه ځي نو د هغه ښکلا به څرنگه تل پاتي سي نو ځکه یواځینی حسن چي تل پاتي او د انسان تلپاتي خوښۍ ورسره تړلي دې هغه حسن د متعال واحد لا شریک ذات دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الله ج حسن داسي حسن دئ چي موږ یې په هکله د تصور او خیال نیلی نه سو ځغلولی او دومره ویلای سو چي الله ج نور علی نور دئ حسن حسن دئ ټوله ښکلا د هغه د کمال مظاهر ده.

اوس که د سید علي مرتضوي نظر راواخلو چي انسان ددې دنیا څخه پردی دئ ځکه چي کله انسان د کایناتو په هکله په یوه گوښه کي فکر وکي دی به حتما د غم احساس کوي. دغه د غم احساس موږ ته د کومي کیږي؟ دی خپلي خبري داسي غزوي چي کله انسان له خپل اصلي ټاټوبي نه بل طرف ته ولاړ سي د تنهایۍ او زړه تنگون احساس کوي همداسي زموږ روح هم دلته پردی دئ او د خپگان د احساس سره مخ کیږي تر څو چي د خپل اصلي معشوق او محبوب سره یو ځای سوی نه يې، تر هغو ارام نه لري.

کاروان صاب هم انساني روح د الله ج سره د یو قوي ارطبات په دلودلو قایل دئ.

کاروان صیب وایي:

له سمندر سره هوسا وي په ارامه روان

څاڅکی په نیم وجود پر مځکه وي په گرانه روان

روهي صاب بیا د انسان د زړه تنگون په اړه څه وایي. خو پر دې نه ږغیږي چي انسان ولي دا زړه تنگون پیدا کوي؟ انسان ولي په دنیا کي داسي حالت سره مخ سي چي هغه نعوذ بالله یواځي د انسان تصوري برخه وي؟

اوس دغه تصوري دیوتا چي ښاغلي روهي بیان ورکړی د کومي خوا نه کیږي ایا ددې تصوري موجود په هکله د انسان روح د وخته اړیکه او نه شلیدونکې رابطه درلودله که څنگه؟

روهي صیب په ادبي څېړنو کي بل ځای یو داسي اشاره کوي: کله چي د انسان لپاره پناه ځای ختم سي نو د خیال نړۍ کي د یو داسي چا تلاش کوي چي هغه د ده هره ستونزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حل کړي اوس که موږ دغه خیال حقیقت فرض نه کړو نو انسان ولې د یو بل خیال لټه نه کوي چې انسان هلته دمه وکړي؟

موږ که د نورو دینونو پیروانو نظرونه هم وګورو نو دوی د خدای ج د جمال پرته جمال نیمګړی بولي حتی افلاطون چې د فکر آس یې زیات تیز او توند و دې ته تسلیم سو چې ددې نړۍ ښکلا د الله ج د جمال سیوری دئ.

خو دلته دا پوښتنه راولاړیږي چې ولې انسان د هغه تصور نه سي کولای؟ نو موږ دومره ویلای سو چې انسان د ممکناتو د حسن لپاره آن مکمل تصور نه سي کولای نو د متعال او حسن مطلق تصور خو تر انساني فکر لوړ دئ. راسئ مولانا په دې هکله څومره قوي استدلال کړی دئ.

مولانا وایي:

پای استدلالیان چوبین بود

پای چوبین سخت بې تمکین بود

دی وایي څوک چې د الله ج د جمال او جلال په اړه استدلال او منطق کوي د هغوی پښې د لرګو دي او د لرګو نه جوړې پښې د دریدو قدرت نه لري.

تاسو راسئ د کاروان صیب دا فکر وګورئ! هغه هم ټولي مجازي مینې د خدای ج د مینې سیوری بولي.

کاروان صیب وایي:

مینه د خدای مینه بیلي بیلي جامې واغوندي

چاته معشوقه سي چاته مور چاته د پلار په څېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چي دانساني حسن هره برخه نيمگړې او نسبي ده او په دنيا کي د انسانانو په نړۍ کي کمال مطلق شتون نه لرې نو ځکه انسان د يو کامل حسن ضرورت احساسوي او دغه ضرورت د انسان بيغير د خدای ج څه نه پوره کيږي نو ځکه د انسان اشد ضرورت هم همدا دئ چي د يو کامل مطلق حسن سره اړيکه او رابطه ولري چي دغه رابطه ورو ورو جوړيږي.

په وروسته کي د يو شاعر بيت چي په غير شعوري توگه ورنه يوه خبره سوې بدرگه کوو.

جوړ د ختهو اور اوبو نه

ژوندی ستا د ذات په نور يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فطري حسن

فطرت چي د صنعت مقابل لفظ دئ یعني هغه حسن چي د انساني صنعت او تخلیق نه پردی وي اوس طبیعت زموږ نه راتاو شاوخوا د خدای ج مخلوقات دي چي هغوی د جلال او جمال مظاهر او ښکاره کوونکي دي.

هر موسم تجدید او تنوع دئ د مني په موسم کي د درختو ژړې پاڼي حسن دئ د ژمي د باران نرم څاڅکي تنوع او حسن دئ د دوبي په موسم کي د ارام سیند پر غاړه د شنو ونو منځ کي د مرغیو شور تنوع او حسن دئ او د پسرلي ګلان خو ټول ویني چي څرنګه د حسن مظاهر دي.

یوه ټپه ده:

جانانه خپل وطن ته راسه

شوتلې شنې دي غنم دومره دومره دینه

په پورته ټپه کي تاسو خپله لیدلای سئ چي د طبیعت حسن یعني څه.

زموږ په خوا کي هغه پی مخي ښکلي چي موږ هره ورځ وینو او زړه ورکوو دا د طبیعت حسن دئ او بس.

موږ تر ټولو مخکي د طبیعت د ښکلا په اړه باید د طبیعت د ښکلا د خالق ارشادات مطالعه کړو د ښکلا خالق په خپل سپېڅلي کتاب قرآن کریم کي د کایناتو د ښکلا په اړه داسي وایي:

اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ مَا لَكُم مِّن دُونِهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا شَفِيعٍ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ اية

الله الذي خلق السماوات والأرض وما بينهما في ستة أيام «أولها الأحد وآخرها الجمعة» ثم استوى على العرش «هو في اللغة سرير الملك استواء يليق به» ما لكم «يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



كفار مكة» من دونه «غيره» من ولي «اسم ما بزيادة من أي ناصر» ولا شفيع «يدفع عذابه عنكم» أفلا تتذكرون «هذا فتؤمنوا

الله ج د فطرت او د طبیعت په هکله فرمايي چي الله هغه ذات دئ چي اسمانونه او مځکي او د هغو په منځ کي چي کوم شيان شتون لري په شپږو ورځو کي يې پيدا کړه ورسته يې استوا پر عرش وکړه او نسته تاسولره د دې خدايه پرته بل شفيع او ولي چي ستاسو کومک وکي ايا تاسو نه پوهيږئ يا ستاسو نه ياديږي. چي ايمان راوړئ.

تفسير قرطبې د همدې ايات په تفسير کي وايي الله ج په وروستيو دوو ورځو کي د مځکي او اسمانونو پرته نور شيان پيدا کړه او جمال يې تخليق کئ.

په پورته ايات شريف کي صرف د مخلوقاتو د پيدايښت په اړه الله ج ارشاد فرمايلی دئ خو که راسو په دې پسي متصل ايات کريمه ته نو د طبيعت د ښکلا انځور به وګورو او موږ به پوی سو چي خدای ج چي مخلوقات پيدا کړي دي دا يې د پوره حسن او جمال سره پيدا کړي دي.

الَّذِي أَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهُ وَبَدَأَ خَلْقَ الْإِنسَانِ مِن طِينٍ ۷اية س .سجدة

الذي أحسن كل شيء خلقه «بفتح اللام فعلا ماضيا صفة وبسكونها بدل اشتمال» وبدأ خلق الإنسان. «آدم»من طين «

الله ج د ځان ستاينه د جمال په پيدا کيدو سره کوي او وايي چي الله ج هغه ذات مبارکه دئ چي ټول شيان يې په ښکلي او ښايسته جوړښت کي پيدا کړه هغوی ته يې جمال ور وبخښئ او د انسان اول پيدايښت يې د ختې نه وکئ.

تاسو اوس د طبيعت د ښکلا او د دې ښکلا د پيداکونکي په کمال کي فکر وکئ چي د خاورو نه يې څومره ښکلی او ښايسته صورت جوړ کړی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ج په سورة نحل کي د طبیعت ښکلا نوره هم په تفصیل سره بیان کړې ده او ورته یې وضاحت ورکړی دئ راسئ چي د سورة نحل دا څو ایاتونه ولولو!

وَالأَنْعَامَ خَلَقَهَا لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ وَمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَأْكُلُون سورة نحل آیة ٥

والأنعام «الإبل والبقر والغنم ونصبه بفعل مقدر يفسره»خلقها لكم «من جملة الناس» فيها دفء «ما تستدفئون به من الأكسية والأردية من أشعارها وأصوافها» ومنافع «من النسل والدر والركوب» ومنها تأكلون. تفسير جلالین شریف «قدم الظرف للفاصلة

الله ج د انسان د ښایست بیان څو څو ځلي کړی دئ لکه په صورت تین کې یا هم په تیرو مخکیني ایاتونو کي مو وویله خو اوس دلته انسان ته د طبیعت د نورو برخو ښکلا ښایي.

او الله ج هغه حیوانات چي پر څلورو پښو ګرځي پیدا او تخلیق کړي یې دي الله ج دا ځکه خلق کړي دي چي په دې کي د انسانانو دپاره ګټې او فایدې موجودي دي او د دغو حیواناتو نه انسان خوراک کوي.

وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ

ولكم فيها جمال «زينة» حين تريحون «تردونها إلى مراحها بالعشي» وحين تسرحون «تخرجونها إلى المرعى بالغداة))

الله ج د انسان جمالیاتي ضرورت هم بیان کړی نه دا چي یواځي تاسو ددې حیواناتو څه مادي ګټه لاس ته راوړئ بلکي دې کي ستاسو جمالیاتي حظ هم خړوب کیږي هغه وخت چي ماښام یې کورونو ته راولئ یا هم سحر یې څړځایونو ته بیایاست.

وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَى بَلَدٍ لَّمْ تَكُونُواْ بَالِغِيهِ إِلاَّ بِشِقِّ الأَنفُسِ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَؤُوفٌ رَّحِيم

وتحمل أثقالكم «أحماالكم» إلى بلد لم تكونوا بالغيه «واصلين إليه على غير الإبل» إلا بشق الأنفس «بجهدها»إن ربكم لرؤوف رحيم «بكم حيث خلقها لكم

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تاسو پر دې حیواناتو خپل سامانونه هم وړئ د یوه ښار نه بل ښار ته چي تاسو هغه سامان بیله موشقته په خپل ځان سره نه سو رسولای بې شکه چي ستاسو رب مهربانه او بخښونکئ دئ.

وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً وَيَخْلُقُ مَا لاَ تَعْلَمُونَ

وخلق» والخيل والبغال والحمير لتركبوها وزينة«مفعول له والتعليل بهما بتعريف النعم لا ينافي خلقها لغير ذلك كالأكل في الخيل الثابت بحديث الصحيحين»ويخلق ما لا تعلمون «من الأشياء العجيبة الغريبة

تاسو راسئ د قرآن کریم اعجاز وګورئ او د جمال دې پټي برخي ته یې متوجه سئ چي الله په ترتیب سره د انسان د ذوق مطابق لومړی ښکلی حیوان چي آس دئ یادوي بیا خر او بیا غاتر.

الله ج فرمایي چي ما آس خر او غاتر د دې دپاره تخلیق کړ چي تاسو پرې سپاره سئ او د ښکلا دپاره مي پیدا کړي دي او الله ج هغه څه پیدا کوي چي تاسو پرې نه یاست خبر.

وَعَلَى اللّهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَآئِرٌ وَلَوْ شَاء لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ

»وعلى الله قصد السبيل «أي بيان الطريق المستقيم»ومنها «أي السبيل» جائر «حائد عن الاستقامة» ولو شاء «هدايتكم» لهداكم «إلى قصد السبيل» أجمعين «فتهتدون إليه باختيار منكم

الله ج اراده لري چي تاسو ته نیکه لار وښیي نو بعضې ستاسو څخه د دې لارې څخه اوړي او که الله ج اراده وکړي نو تاسو ټولو ته به هدایت وکړي.

يُنبِتُ لَكُم بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُونَ وَالنَّخِيلَ وَالأَعْنَابَ وَمِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



»ينبت لكم به الزرع والزيتون والنخيل والأعناب ومن كل الثمرات إن في ذلك «المذكور» لآية «دالة على وحدانيته تعالى» لقوم يتفكرون «في صنعه فيؤمنون

وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ فِي الأَرْضِ مُخْتَلِفاً أَلْوَانُهُ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَةً لِّقَوْمٍ يَذَّكَّرُون ۱۴ آية

وسخر لكم» وما ذرأ «خلق» لكم في الأرض «من الحيوان والنبات وغير ذلك» مختلفا ألوانه «كأحمر وأصفر وأخضر وغيرها» إن في ذلك لآية لقوم يذكرون «يتعظون

ورسته الله ج انسان د رنګارنګۍ او تنوع د ښکلا په هکله وايي د هرڅه رنګ بيل دئ چي دا يو ډول تنوع دئ بيلابيل رنګونه او بيلابيل موجودات د طبعي ښکلا ايجادونکئ فکر دئ.

الله ج ارشاد کړی چي او تاسو ته يې هغه څه مسخر کړي دي کوم چي الله ج د مځکي پر مخ پيدا کړي دي رنګونه يې مختلف دي بعضي سره بعضي شنه ځيني تور او ځيني يې سپين په دې کي هغه قوم ته چي څه يې ذهن کي پاتيږي علامي او نښي دي.

وَهُوَ الَّذِي سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَأْكُلُواْ مِنْهُ لَحْماً طَرِيّاً وَتَسْتَخْرِجُواْ مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا وَتَرَى الْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبْتَغُواْ مِن فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُون۱۵ آية

وهو الذي سخر البحر «ذللّه لركوبه والغوص فيه»لتأكلوا منه لحما طريا «هو السمك» وتستخرجوا منه حلية تلبسونها «هي اللؤلؤ والمرجان» وترى «تبصر»الفلك «السفن» مواخر فيه «تمخر الماء أي تشقه بجريها فيه مقبلة ومدبرة بريح واحدة» ولتبتغوا«عطف على لتأكلوا تطلبوا» من فضله «تعالى بالتجارة»ولعلكم تشكرون «الله على ذلك»

او همداسي الله ج د بحر د جلال خبره کړي او بحر يې د انسان دپاره تسخير کړی دئ د بحر په منځ کي يې د انسان د مادي ضرورت چي هغه د ماهيانو تازه غوښه ده تر څنګ يې د انسان د جمالياتي حظ د خوړوبولو دپاره هلته بيلابيلي ملغلرې پيدا کړې دي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښتیو داسي رفتار چي د اوبو څپې پرې کوي دا به نو د جلال کومه ننداره وي چي انسان ور څه خوند وانه خلي.

وَأَلْقَى فِي الأَرْضِ رَوَاسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَاراً وَسُبُلاً لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُون

وألقى في الأرض رواسي «جبالاثوابت» أن «لا»تميد «تتحرك» بكم «جعل فيها» وأنهارا «كالنيل»وسبلا «طرقا» لعلكم تهتدون «إلى مقاصدكم

او د مځکي پر سر الله ج غرونه پیدا کړه د محکمۍ دپاره په هغوی د روانو چینو ننداره د طبیعت د جمال تر ټولو ښه ننداره ده.

راسئ د طبیت د ښکلا په هکله د جبران خلیل جبران دوې نثري ټوټې وګورو!

خندا او ژړا

زه خپل غم د نورو پر خوشحالۍ نه ورکوم

او نه غواړم چي زما او ښکي دي په خندا بدلي سي

زه غواړم چي ژوند مي مسکا او اوښکي سي

اوښکي مي زړه پاکوي او د ژوند په اسرارو مي پوهوي

مسکا مي وجود ته خوښي بخښي

زه غواړم چي په شوق مړ سم

نه خپه ژوند وکم

زه غواړم چې خپل په اندرون کي ولاړ سم

مینه وکړم

او د جمال په هکله د وجود لوړي زیاته کړم

ما خلګ ولیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی زیات بد بخته وه

دوی په مادیاتو پسي منډي وهلې

د ماښام په راتګ سره

ګلان خپلي پاڼي ټولي کړي

او د شوق غاړي ټيټي کړي

او کله چي سهار سي

بيا مخ د لمر و قبلې وګرځوي

د ګلانو ژوند شوق او وصال دئ

ژړا او مسکا ده

د بحر اوبه بخار سي

بخار ورېځې جوړي کړي

بيا چي نرم باد راسي بيرته مځکي ته راشوه سي

او له بحر سره يو ځای سي

ورېځې د يو ځای والي او جلا والي زيری دئ

ورېځې خاندي او ژاړي

همداسي روح جسم ته راسي

په لوړو ژورو وګرځي لکه وريځ

ورسته د مرګ نسيم راسي

او هغه بيرته خپل اصل ته رد کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي هغه واحد او متعال ذات دئ

يا يې د څلورو فصلونو د ښکلا په اړه د ده دا نثر وګورئ!

پسرلی

اې محبوبې راسه چي په غرونو کي چکر ووهو! واوري ويلي سوې دي، بيا ژوند رازرغون سوئ دئ ، ژوند په غرونو او شلو کي خپور دئ راسه چي د پسرلي راتګ په لري پرتو سيمو کي ننداره او هرکلی يې ووايو، راسه چي لوړو ته وخيجو او د شين والي نه د سيمي خوند واخلو.

ګلونه لکه د درياب څګ د مځکي پر سر هوار دي ، راسه چي د باران وښکي د نرګس له پاڼو نه وخرو ، د مرغيو د اواز د موسيقۍ نه خوند واخلو ، او د طبيعت عطر حس کړو.

راسه په دې ډبره پاس کښينو چيرته چي بنفشه راته مخامخ وي، او د ميني مچکي تبادله کړو.

دوبی:

راسه ښايستې هغه موسم راغلئ چي کښت رسيدلی دئ ، او لمر په پوره مينه خپلي پلوشې طبيعت ته شيندلي دي، راسه مخکي تر دې چي مرغۍ راسي او زموږ مزاحمت وکړي ، او ميږيان د مځکي مخ ونيسي .

مينه زموږ په اندرون کي ده ، خپلي ذخيري مو له عناصرو پيمانه کړي دي لکه ژوند چي زموږ عواطف اشغال کړي دي.

منی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



راسه اې ګرانې چې د انګورو باغ ته ولاړ سو هلته د انګورو نه په تاک کي اوبه ونيستېږو ،وچي ميوې ټولي کړو ، دګلونو پاڼي ورژوو او بيا يې راټولي کړو.

راسه چې د کورونو خواته ولاړ سو ، پاڼي ژيړي سوې دي او باد يې بيا داسي راشوه کوې لکه مړو ګلانو ته چي ورنه کفن جوړوي، راسه ځکه مرغانو کوچ کړی او د ساحل غاړي ته تللي، د مځکي شور يې له ځانه سره وړی. د ياسمين او ګلابو اوښکي مځکي ته لويدلې.

ژمی

اې زما د ژوند ملګرې رانژدې سه، او مه پرېږده چې د واوري په سوړ تنفس کي درنه بيل سم ، زما په خوا کي مخامخ دي څراغ ته کښېنه ، وګوره اور لمبې کوي اور د ژمي تر ټولو ښه ميوه ده اې د ژوند شريکي څراغ په تيلو اوبه که نزدې دی له تندې نه يې ژوند پای ته ورسيږي،ځانته يې نژدې کښېږده چي زه هغه څه وګورم چي شپه يې ستا پر شدويې اننګو ليکي.

يو منګی شراب راوړه تر څو د ځوانۍ وير پکښې وکړو.

دروازه او کلکينان وتړه ځکه د وريځې ليدل مې غمجن کوې، ښار ته وګوره څومره غلی دئ.

رانژدې سه اور مړکيدونکی دئ ښايې سکروټې يې مړې سي څراغ هم ورو ورو خاموشه کيږي او تاريکه پرې غلبه کوې ، شرابو مي سترګي درنې کړي دي راسره غاړه غړۍ سه مخکي تردې چي خوب مي يوسي او ښکل مې کړه ځکه چي د واوري يخ بل هيڅ شی نه سي غلی کولی بيله ستا مچکو ، اې ګراني د خوب بحر څومره لوی دئ، او سحر څومره لري دئ.

جارج سنتيانا بيا د فطرت حسن داسي بيانوي د لمر د ډوبيدو په وخت کي رنګونه داسي آب او تاب لري چي توجه د ځان طرف ته را کاږي داسي ملاحت او د نظر جاذبيت

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري چي نظرونه مسحور کوي او کله چي د ماښام او اسمان نور روابط هم سره يو ځای سي نو نور هم حيرت انگيزه سي.

انتوني نس ليکي: د انسان دپاره دا کتل د پايدې نه خالي نه دي چي د فطرت بيخي غير ارادي او خاموش اثرات د حسن نه خالي نه دي.

د انکريزي ژبي شاعر کالرج وايي:موږ فطرت ته هغه څه ورکوو څه چي موږ ورڅه اخلو.

يوبل ليکوال وايي: داسي ښکاري چي فطرت ته په يو طريقه نه يوه طريقه پر فن برى حاصل دئ هغه داسي چي فطرت خپل اظهار تازه تازه کوي او دغير متوقع خوشحالى سبب کيږي.

که هر څه وي خو موږ د فطرت په هره ننداره کي د جمال ننداره کوو موږ د فطرت حسن هر چرته وينو هنر مند دفطرت په تقليد باندي هنر پنځوي او بيرته يې طبيت ته وړاندي کوي.

فطرت د حسن او ښکلا تر ټولو ښه مصداق دئ موږ يې وينو خوند ورنه اخلو د شفق د سرو لمنو نه نيولې د غرونو جيرې ډبري هم د حسن ننداره ده خالق په ټول طبيت کي ښکلا کرلې او شندلې ده خو کله نا کله موږ هغه ښکلا ځکه نه وينو چي موږ ورسره عادي سوې يو او تجدد او تنوع ورڅه تللى دئ.

موږ ته خپل ښکلى چاپيريال ښکلى په دې نه بريښي چي موږ هغه هره ورځ وينو خو که څو ورځي موږ له خپل دغه چاپيرياله لري سو نو موږ ته حتما د ښکلا ننداره راته پکښي بريښي.

يا که موږ يوه سندره بيا بيا واورو موږ ته دغه سندره بې خونده کيږي او موږ ورڅه خوند نه اخلو بلکي راباندي غميږي دا ځکه هغه تجدد او تنوع چي دغي سندري ته يي ښکلا بخښله هغه تجدد له منځه تللى دئ او خوند يې د منځه تللى دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نرگيسيت يا خودي

نرگيسيت د ځان د حسن په اړه زياته مبالغه کول دي.هغه کسان چي د ورځي څو ځلي په هنداره کي ځانته گوري؛ هغه کسان چي د ځان ستايني ډېر شوق لري دوی په نرگيسيت اخته دي. نرگيسيت په ښځينه قشر کي تر نارينه زيات ښکاري دوی په دې خوشحاله کيږي چي ستاينه يي وسي يا د ځان ستاينه وکي لکه په دې ټپه کې:

په ما د زر شيندلي نه دي

چي د لاټين په رڼا غواړې ديدنونه

دلته دا ټپه که د هرچا د خوا ويل سوې ده خو د ښځينه ذات دپاره ويل سوې او داسي ښکاري چي دغه ټپه تر زياته حده د يو ښځينه د نرگسيت تر ټولو ښه مثال دئ . تاسو وگورئ چي د ټپي په دننه کي شخصيت  د ځان دومره ستاينه کوي چي بايد زر ورباندي و شندل سي.

نر گسيت د خد خواهۍ او انانيت حد دئ په دې حالت کي انسان په خپل حسن کي ورکيږي او د ځان نه پرته ورته هيڅ نه ښکاري او د خپل حسن پيغور نورو ته داسي ورکوې:

چي په ښايست مي خپه کيږې

نور به د مځکي خوب کوم چي زړه سمه

آن! دغه انسانان تر ځنکدن وروسته هم د خپل حسن په اړه فکر کوي او خپل حسن يې تر مرگ وروسته هم په بدرنگۍ نه دئ پيرزو:

زه د څلورو وروڼو خور يم

زما تابوت به د ډولۍ په شاني ځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی خپلي جنازې د ډولۍ غوندي کوي خو يواځي دومره نه بلکه آن په لحد کي هم د خپل حسن او خمارو سترګو خيال لري:

لحد سوری که رومال راکه

په خومارو سترګو مي پريوتل ګردونه

يا خپله ستاينه دومره حد ته زياته کوې چي غواړي چي هر انسان ددې مين ته ونه رسيږي او تر دې ټيټ پاته سي:

د مخ په سپين کي مي سرخي ده

لکه چي واوره په ګلاب شندلې وينه

دوی پر ځان مينيږي او د نورو انسانانو ارزښت تر پښو لاندي کوي هغه جينکۍ چي په نرګيسيت اخته وي د خپل د ژوند له ملګري نه يواځي د ځان ستاينه غواړي اوبس لکه:

مځکي ته کوز سه خاورې ښکل که

لايق مي نه يې ګرانه خدای در کړې يمه

نرګيسيت په ښځو کي تر نارينه ذات زياته ليدل کيږي او په پښتو لنډيو کي يې ښه ډير مثالونه سته چي تاسو يې د يو څو لوستلو ته رابولمه.

خوشي خواري راپسي مه کړه

د انځر ګل يم په لاس نه در ځم مينه

خولګۍ به خاوري درله درکم

غريب سړی يې د نجونو ميره يمه

خوله به د شونډو لاندي درکم

په سپينو غاښو مي لونګ ژوولي دينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له نرگیسیت سره یوه اسطوره هم تړل سوې چې ښاغلي مصطفی سالک یې یادونه کړې ده:

ښه نرگسیت ته ولې نرگسیت وایي؟ تر شاه یې اسطوره پرته ده،یوه کیسه پرته ده،وایي چې اسطوروي څیرې (نارسي سس) له ځان سره د عبادت تر کچې مینه کوله بلې څیرې (ایکو) بیا له (نارسي سس) سره بې توله مینه لرله خو (نارسي سس) یې په کیسه کې نه و. په پای کې (ایکو) په هغه جهیل کې ځان ډوب کړ چې (نارسي سس) یې په رڼو اوبو کې د خپل حسن ننداره کوله،(نارسي سس) چې وکتل ( ایکو) ورکه ده نو غږ یې پرې وکړ،خو له هر لوري یې د خپل غږ انگازه واوریده.(نارسي سس ) د جهیل پر غاړه ولاړ پاتې شواو هم هلته یې سا ورکړه،د هغه تر مرگ وروسته هلته د نرگس یو گل وټوکید چې سر یې ښکته کړی و او د جهیل په اوبو کې یې د خپل حسن ننداره کوله.پر همدې بنسټ فرویډ د ځان مینه (نارسي سېزم) یانې نرگسیت وبلله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښکلا په اړه د پښتو فولکلور نظر

ښکلا پوهنه یا جمالیات یو بېل علم او یو پراخه موضوع ده چي په یوه مقاله کي یې راټولول خورا ناشونی او سخت کار دئ او د یو بېل علم لکه ادبیات پوره کلونه د مطالعې دپاره غواړي خو کله چي د حسن د تعریف خبره کېږي نو د پوره فن ژبه گونگه ده او حسن نه سي تعریفولای یو عالم وایي ما شل کاله د حسن په اړه څېړنه وکړه خو اخیر په دې پوه سوم چي حسن نه تعریف کېږي، برانرډ بورکیټ وایي( د حسن داسي تعریف نسته چي ټول یې په یوه خوله بدرگه کي).گویټي وایي: (حسن د تشریح وړ څیز نه دئ دا خو د یو داسي خپرېدونکي،ښورېدونکي او ځلېدونکي سوري په شکل دئ چي عکس یې هم د تعریف په دام کي نه راځي. ).

ونکل مان ( د حسن اصلي سرچینه د پرویډ غوندي د انسان ژنده غریزه بولي او حسن د هغه ځایه را بهیدونکې ویاله بولي چي نړۍ خوړوبوي) ونکل په دې اند دئ چي حسن د هغو پاکو او شفافو اوبو په څیر دئ چي د چینې د منځ نه را ایستل سوې وي که د دغو اوبو خوند لږ خراب هم وي خو ددې اوبو قدر او قیمت زیات دئ ځکه د ټولو غلظتونو څخه پاکي دي.دی وروسي داسي خپلي خبرې اوړدوي: حسن د داخیلي صفت په حیث په عام طور سره د ښه سره تړلی دئ او داسي خیال دئ چي تجزیه نه اخلي دواړو جذبو ته موږ په خصوصي ډول په یو بل ځای کي غوټه ورکړې چي سرچینه یې شهوت دئ. تهامس ایکونیاس وایي: (د یو سړي د وجود ښایست په دې کي دئ چي د هغه جسماني اجزا په خپله کي ښه تناسب سره ولري او ورسره د رنگ د ښکلا خاصیت چي هم آهنگي ده پکښي موجود وي). په دې اند کله چي په یو شي د اجزاوو تناسب منځ ته راسي نو حتما دغه شي کي د ښکلا ننداره راځي سینټ اگینسټاین هم د تناسب او موزونیت څخه پرته حسن نه وینې، دی وایي:(حسن په تناسب او هماهنگۍ کي دئ ځکه د هر ښکلي شي په اجزاوو کي تناسب پروت وي).سمویل الیکزنډر لیکي:(د ښکلو شیانو ښایست د دوی د اجزاوو په موزونیت او یو والي کي دئ). نارولا وایي: ( یوازې غټې سترگي او دنگه پزه د حسن معیار نه دئ بلکه کله چي ددې اعضاوو تر منځ یو ډول توازن وساتل سي نو حسن به منځ ته راسي). فرویډ ادب ښکلا او هنر د انسان د ژندي غریزې یعني شهوت څخه وبلل او ده وویل چي ادب هنر او ښکلا د شهواتي حس نه سرچینه اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو حسن چي هر ډول شی دئ خو د حسن په اړه درې نظریې مشهوري نظریې موجودي دي یوه دا چي حسن د انسان په داخل کي سته چي د انسان د وجوده دباندي حسن او قبحه شتون نه لري بلکي هغه زموږ ذهن دئ چي یو شی موږ ته ښکلی او بل بیا بدرنگه ښیي یوناني فیلسوفان وایي: (حسن او قبحه د یوه څیز دوه نومونه دې چي حسن د روحاني اضطراب د تسکین او د ژوند دهوسایني او ارتقا لپاره ضرور څیز دئ) دوی وایي نه حسن کوم شی دی نه قبحه یا بدرنگي، خو دویمه ډله علما بیا وایي چي حسن د انسان په ذهن او داخل پوري اړه نه لري بلکي دا په خاریجي نړۍ کي موجوده ده چي یو شي ته یې نسبت کېږي، گروس وایي: (په اصطلاح کي ښکلی هغه دئ چي سم دلاسه د حسي لذت سبب سي د باصره دپاره هم د سامعه دپاره هم.) او دریمه ډله پوهان بیا په دې اند دي چي ښکلا نه معروضي ده نه موضوعي بلکي د دې دواړو گډه لاسته راغلې گډوله ده میا شریف وایي: ( حسن د حقیقت او اظهار د امتزاج نه یو مخصوص صفت دئ.).د دغو درو واړو فلسفي نظریاتو یوه گډوله په یوه تپه کي گورو:

زما په سترگو ورته گورئ
جانان ښایسته دئ که رب زه لېونۍ کړمه

استاد سالک همدا خبره پر خپله فېسبوک پاڼه باندي داسي کړې ده چي په پورته ټپه کي د ښکلا درې واړي نظریې را نغښتل سوي دي چي په لمړۍ نیم بیته کي وایي چي زما په سترگو ورته گورئ یعني که ستاسو په سترگو هر ډول وي خو زما په سترگو ورته گورئ خو بیا د همدې خبري څخه اوښتې ده او وایي جانان ښایسته دئ چي په دې ډول سره د ذهني ښکلا څخه راگرځېدلې ده او ښکلا د محبوب صفت گرځوي او کله چي دغه خبره په استفهامي ډول سره کوي نو بیا یو گډه نظریه ور څخه منځ ته راځي.

کله چي د دې اختلاف سر تناو وینو نو ۳۴۰ ق. م. مېلاد د ارسطو او افلاطون وخت ته ځان رسوي او د افلاطون له نظره گلان او پېغلي مري او د ښکلا ایډیا تل پاتي وي او د منځه نه ځي بلکي پاتي کېږي نو ځکه حسن یو ایډیال یا فکر دئ خو ارسطو ویل حسن په شیانو کي دئ نه په فکر کي.خو کله چي ټوله نظریات سره یو ځای کړو نو زیات وخت یوه خبره ترې جوړېږي چي ښکلا په ذهن سره پېژندل کېږي یعني قاضي یې ذهن دئ او دغه تصوېر بیا د ټولني څخه منځ ته راځي او ټولنه د یو شي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلا او بدرنګي عمومي تصوېر لري خو بیا دغه تصوېر ته هر انسان خپل فکري اند هم ور اچوي او بیا نو د دواړو نه د ذهني قضاوت دپاره یو قانون جوړ سي او په دغه قانون بیا بدرنګ او ښکلی بېلوو. موږ د ښکلا په فلسفي اړخ نور هېڅ کار نه لرو بلکي موږ یې په پښتو فولکلور کي د ښکلا تصور ګورو چي پښتانه کوم انسانان ښکلي بولو او کوم بدرنګ بولي او د جلال او جمال سره کوم کار نه لرو ځکه چي هغه یو پراخه موضوع ده او د یوې مقالې د ګنجایش وس نه دئ بلکي هغه پوره پوره کتابونو ته ضرورت لري.په پښتو فولکلور کي تر ډېره حده د ښکلا معیار سپین والی دئ هغه د پښتو متل دئ چي سپین والی د انسان اوه عیبه ورکوي او بل د پښتو فولکلور د ښکلا دپاره د سترګو زیات انتخاب کوي او تر څنګ یې اوربل کاکل او زلفي د ښکلا دپاره یو ښه معیار بللی دئ خو کله کله د دنګ قد یادونه کوي. په پښتو فولکلور کي د سترګو یادونه په بېلابېلو بڼو سوی دئ کله د خړو سترګو خبره وي او کله بیا تورو سترګو خلګ د کاره یستلي وي کله تور اوربل د ښکلا زېړوونکی وي او کله بیا د تورو زلفو څخه بحث کېږي. راسئ په لاندي فولکلوریکو موادو کي د ښکلا ستاینه وګورئ:

خیړي سترګي سپینه خوله
ګران دي له بوري صبرېده

ماتي سترګي مات بانه
په سپیني نسته مړېده

سپین یې ګی دئ سپین یې زړه دئ
سپین د سپینو په تاله دئ

سترګي وړې ښې دي که غټې
وړو مین کړم غټو ورک له ملکه کړمه

یاري د دنګي جینۍ خوند کړي
تر پلو لاندي سرۍ غلی تېروینه

سپینه دي خوله سپین دي څنځېر دئ
پلار دي امیر دئ جینۍ نه دي راکوېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زلفي مي مه لنډوه مورې
په سر پرېکړو ونو نه کښيني بازونه

په ټوله پښتنه ټولنه کي تر سترګو زيات ارزښت بل کوم څه ته نه ورکوي او بيا نوري کيسي دي چي د ښکلا په اړه يې دوی بحث کوي چي بيا دنګه غاړه خوله او داسي نور خو د پښتو هر ځومره فولکلور چي لټې پر لټ کو نو سپين واله او تر ځنګ يې ښايستې سترګي جګه غاړه ده چي د ښکلاګانو د عظمت کلاګاني په وداني وي لکه:

سترګي دي توري په ځنګ ګوري
د سپوږمۍ خوري د ژوندون دي ويستمه

سترګي هوسۍ صراحي غاړه
زلفي سنبل دي پر سېنه مزه کوېنه

په پورته کاکړيو او ټپو کي وينو چي د سترګو او بڼو او سپين واله او لوړوالي صفت سوی دئ او هم دا د ښکلا معيار بلل سوی دئ چي دغه د پښتنو په سيمه کي هم همداسي دئ موږ وينو چي کله سپين سرې د يو چا صفت کوي نو وايي چي پلانۍ ښه جګه پزه غټي غټي سترګي او تکه سپينه ده.

خو په پښتو فولکلورر کي د غنمرنګو يادونه سوې ده ځکه د جغرافيه پوهانو په اند پښتانه غنمرنګه دي نو ځکه د خپل تبيت نه مجبور وي چي غنمرنګ وستايي خو کله کله بيا تر سپين والي او غنمرنګۍ ور هاخوا ته ښکلا هم لټوي او خصوصا په کاکړيو کي د سرې يادونه زياته سوې ده خو سوروالۍ هم هغه سوروالۍ نه ښيي چي بيخي تک سره وي بلکي سور سپين ښيي او کله کله د چينايانو غوندي وړې سترګي ښې بولي خو هغه تصور د ښکلا په اړه په پښتو فولکلور کي کم دئ لکه په دې ټپه کي:

ژړ چارګل ژړه ځهره
ژړو پر ولنګ وموسيده

سترګي وړې ښې دي که غټي
وړې لا ښې دي غټي اور را لګوېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم په پورته ټپه کي په مستقیم ډول وایي وړې لا ښې دي خو په غیر مستقیم ډول سره د غټو سترګو صفت کړی دئ او دغه د غټو سترګو  د ښکلا خبره کوي د ښکلا په اړه د فولکلور په تصور کي همدومره پاتېږو او مخي ته د تللو کوښښ نه کوو بلکي په دې متل چي مشت نمونه یې خروار سره عمل کوو او موږ په هم دې لړو فولکلوریکو موادو بسنه کوو او خپله مقاله په خپلو دې خبرو راټولوو چي څه چي د زړه خوښ سوه بس هغه ښکلي دي او بس.

په درنښت نوماند پوهنیار: معتصم بالله شاهد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پایله

د جمالیاتو علم د انسان د پیدایښت سره سم پر مختللی او وخت پر وخت یې په هکله نظریې پاته سوې دي خو د مکمل علم په حیث په ۱۷مه پیړۍ کي رامنځ ته سو.

جمالیات د جمال جلال بدرنګۍ او نیکو اخلاقو ښکلي فن علم دئ. جمال: هغه توازن دئ چي په معروض کي شتون ولرې موږ ته خوشحالي بخښي.

جلال: هغه معروض چي زموږ ذهن د تحیر بیري او لویۍ څه ډکوې. جلال په لویو ویرونکو او قوت لرونکو شیانو کي وې لکه غرونه ځنګلونه ستري مجسمې دریابونه او... خو جلال بیا په نرم او مهینو شیانو کي شتون لرې لکه: جینکۍ ګلان شبنم پاڼي چینې او ....

قبحه بیا تر یو حده عادي شی دئ موږ د هغه په هکله عکس العمل نه ښیو او د هغه په هکله بې تپاوته پاتیږو. قبحه زموږ ذهن ته خوښي نه بخښي قبحه بس دومره ورته کافي ده چي قبحه یا بدرنګي ده خو نه سو ویلای چي کوم لامل دئ چي قبحه منځ ته راوړې او ولي یو شی بدرنګ بلل کیږي.

طبیت د ښکلا لوی مظاهر دئ او د هر طبعي شي تر شا د جمال خورا لویه کیسه پرته ده.

د چینې د سپینو اوبو په منځ کي د ماهیانو سپینې او زرزري سینې د غرونو په زیږو پرښو د راتوېېدونکو اوبو ننداره د سند په هواره لمن کي د څپو شور د باران د څاڅکو رواني کښتې د مځکي پر سر او بیا د هغې پنا کیدل د شفق سرې سترګي او د لمر غروب د محبوب په زنه کي مهین داغ د پیکي چتر نرمي ګوتي او همداسي د نارینه زیږوالی د هغه پر مخ د ږیري ویښته او د ښځینه مخ پاک او بې ویښتو.

که طبیعت نه فوق جمال ته راسو نو دومره وایو که د جمال نسبت الله ج ته وسي ورنه د هغه د لطف صفات مراد دئ او که د جلال نسبت ورته وسي نو د الله ج د قهر او جباریت صفات ورنه مرادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نرگسیت د نارینوو په اندازه د ښځو زیات مرض دئ او هغه کس چي د ورځې شل ځله آینې ته گورې هغه په مرگسیت یا پر ځان په مینتوب اخته دئ ښځینه د نارینوو په پرتله زیات په نرگسیت اخته دې نو ځکه وایي:

مځکي ته کوز سه خاوري ښکل که

لایق مي نه یې گرانه خدای درکړې یمه

او خپلي خبري په دې ټکو رالنډومه هر شی د جلال او جمال په شتون کي خوندور او بیله جماله بې خونده دئ.

## ماخذونه


۱: قرآن کریم. ( ۱۳۹۶ ). کندهار: صداقت کتب خانه.

۲: بخاري، محمداسماعیل. ( ۱۳۹۰ ه ). صحیح البخاري. کندهار: مکتبه حبیبیه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳: بلخي، جلال الدين. ( ۱۳۷۸ه ). تفسير جلالين. لاهور: مکتبه دينيه.

۴: دمشقي، اسماعيل ابن کثير. ( ۱۳۸۵ه ). تفسير ابن کثير. لبنان: مطبة البيروت.

۵: بلخي، جلال الدين. ( ۱۳۹٦ه ). مولوي مثنوي معنوي. لاهور: مکتبة الدينيه.

٦: بهار، محمد تقي. ( ۲۰۰۱م ). د ملک الشعرا بهار ديوان. تهران: موسسه فرهنگي، علمي، سينمايي الست فردا.

۷: بافقي، وحشي. ( ۲۰۰۱م ) ديوان وحشي بافقي. تهران: موسسه فرهنگي، هنري سينمايي الست فردا.

۸: بابا، عبدالرحمن. ( ۱۳۹۷ه ). د عبدالرحمن بابا ديوان. پيښور: دانش خپرندويه ټولنه.

۹: بارگزی، حنان. (۱۳۸۸ه ).د ميرزا حنان بارگزي ديوان. لاهور: صحاف نشراتي موسسه.

۱۰: خان، غني. ( ۱۹۸۵م ). د غني خان کليات. کابل: د نشراتو رياست.

۱۱: خليل،جبران. (۲۰۰۹). الدمع والابتسامة. لبنان: طباعة البيروت.

۱۲: خليل،جبران.(۲۰۱۱). مجموعة الجبران. لبنان: طباعة البيروت.

۱۳: ختيک، خوشحال خان. ( ۱۳۹۷ه ). د خوشحال خان ديوان. خپرندويه يې نامالومه

۱۴: ختيک،اقبال نسيم. ( ۱۹۸۷م ). خوشحال او جماليات. پيښور: جدون پريس.

۱۵: داغر، شربل. ( ۲۰۰۹م ). ماالجمالية. لبنان: مطبعة البيروت.

۱٦: درويش، دوکتور بهأ. ( ۲۰۰۲م ). فلسفة العقل عند دوناد داپډوس. اسکندريه: شرکة الجلال للطباعة.

۱۷: روهي، محمد صديق. ( ۲۰۰٦م ). ادبي څېړني. پيښور: اسد دانش مطبعه .

۱۸: شريعتي، علي. ( ۲۰۱۴م ). هنر. تهران: موسسه فرهنگي، هنري، سينمايی الست فردا .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹: شنواری، حمزه. ( ۱۳۹٦ ه ). د حمزه شینواري غورچاڼ. کندهار: میوند خپرندویه ټولنه.

۲۰: فطر، امیرة الحلیمي ( ۱۹۱۹م ). فلسفة الجمال. قاهره: دار المعارف.

۲۱: کرم، یوسف. ( ۲۰۰۹م ). الطبیعة و مابعد الطبیعة. قاهره: مکتبة الثقافة الدینیه.

۲۲: کاروان، پیر محمد. ( ۲۰۱۵م ). زرزري وزرې. کابل: دانش مطبعه.

۲۳: گنجوي، نیظامي. ( ۲۰۰۱م ). دیوان نظامي گنجوې. تهران موسسه فرهنگي، هنري، سینمایي الست فردا.

۲۴: ماشیري، بیار. ( ۲۰۰۹م ). بم یفکر الادب. جزیران: مطبعة البیروت.

۲٦:نیشافوري، خیام. (۲۰۰۱). دیوان خیام نیشافوري. تهران: دارالطباعة تهران.

۲۷: نجیب، علي. ( ۲۰۰۷م ). المأ والاحلام دراسة عن الخیال والمادة. لبنان: مطبعة البیروت.

۲۸: یوشج، نیما. ( ۲۰۰۱م ). د یوشج دیوان. تهران: موسسه فرهنگي، هنري، سینمایي الست فردا.

۲۹: د پښتو فلکلور.

۳۰: د سالک، مصطفی. فسبوک اکاونټ.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**